# البقرة

**مدنی سورة دی ۲۸۶ آیتونه لری.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ ١

**الف، لام، میم( په حقیقی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه و سلم ښه پوهیږی)**

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ٢

**دا د (الله تعالی باعظمته) کتاب دی چې هیڅ شک او ابهام پکې نشته ( او هره خبره یې کاملاً په حق او حقیقت ولاړه ده)، د پرهیزګارانو له پاره لوی لارښود دی.**

ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ٣

**(پرهیزګاران) هغه کسان دی چې په غیبو ایمان لری،( د لمانځه نظام قایموی او د ارکانو سنتو او ادابو په رعایت سره ) لمونځونه کوی او زمونږ له ورکړی مال ځخه یوه مناسبه برخه( د الله تعالی د رضا لپاره د زکات او خیرات په توګه مستحقینو ته) ورکوی.**

وَٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ وَبِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ٤

**او هغه کسان( هم پرهیزګاران دی) چې ایمان راوړی په هغه کتاب( قرآن کریم) چې په تا نازل شوی او په هغو آسمانی کتابونو چې ستا نه وړاندی نازل شوی او د آخرت په راتللو هم پوره باورمن او متیقین دی.**

أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدٗى مِّن رَّبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥

**همدغه کسان د الله تعالی له هدایت نه برخمن، نیکمرغه او بریالی دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ ءَأَنذَرۡتَهُمۡ أَمۡ لَمۡ تُنذِرۡهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٦

بیشکه( ځینې خاص) کافران(لکه ابوجهل، ابو لهب او نور چې د شدید شقاوت  او عناد  په سزا کې ورته کفر مقرر شوی او د تل لپاره د ایمان له نعمت نه محروم شوی) ورته یو شان ده که یې وویروې یا یې ونه ویروې، په هیڅ صورت  ایمان نه راوړی.

خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰٓ أَبْصَـٰرِهِمْ غِشَـٰوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٧﴾

( د دوی د شقاوت او عناد له امله)الله تعالی د دوی په زړونو او غوږونو مهر لګولی( چې نه د حق په خبره ځان پوهوی او نه حق وینا اوری) او په سترګو یی ورته پرده غوړولی( چې د حق لاره نه وینی) او لوی عذاب یې هم په برخه دی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَبِٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿٨﴾

او داسی کسان هم شته چې په ظاهره په الله تعالی او آخرت  د ایمان ادعا کوی خو حقیقی مؤمنان نه دی( او ایمان یې صرف د ژبې په سر او د مؤمنانو د تیرویستلو لپاره دی) .

يُخَـٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٩﴾

(دوی په خپلو درواغجنو ادعاو) له الله تعالی او مؤمنانو سره تېکی کوی خو په دی نه پوهیږی چې په حقیقت کی یوازی خپل خانونه تیر باسی( او د تېکی زیان یې بیرته همدوی ته رسیږی).

فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴿١٠﴾

د دوی په زړونو کی ( د کفر او شرک او له اسلام او مسلمانانو سره د  حسد او عناد ) مرض موجود و او الله تعالی( د مبارک قرآن په نزول، د اسلام په پرمختګ او د مسلمانانو په پرله پسې برلاسیو سره) دغه رنځ، نور هم دوی ته ناسور کړ او( د ایمان) د درواغجنې ادعا په جرم به په دردوونکی عذاب اخته شی.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ قَالُوٓا۟ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿١١﴾

**او چې دوی ته وویل شی په ځمکه کی فساد او دهشت مه خپروی، نو وایی موږ خو مصلحین او د امن تامینوونکی یو.**

أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ ١٢

**پوه شی چې په حقیقت کی دوی ترهګر او تخریبکاران دی( او د سولې او مصلحت ټول شعارونه یې د فساد او نفاق لپاره دی) خو نه پوهیږی( او د خپل تخریب او فساد  له ناوړه عاقبت او الهی عذاب نه خبر نه دی).**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ كَمَآ ءَامَنَ ٱلنَّاسُ قَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ كَمَآ ءَامَنَ ٱلسُّفَهَآءُ ۗ
أَلَآ إِنَّهُمْ هُمُ ٱلسُّفَهَآءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ١٣

**او چې ورته وویل شی د نورو خلکو په شان حقیقی ایمان راوړی (نو مؤمنانو ته د ناپوهانو خطاب کوی او) وایی آیا د دغو ناپوهانو په شان ایمان راوړو؟ واوری چې حقیقی  ناپوهان او جاهلان دوی پخپله دی خو( خپله ناپوهی هم ) نشی درک کولی.**

وَإِذَا لَقُوا۟ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْا۟ إِلَىٰ شَيَٰطِينِهِمْ قَالُوٓا۟ إِنَّا
مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُونَ ١٤

**کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شی نو( د ایمان ډیری په سینه وهی او) وایی موږ رښتونی مؤمنان یو، خو کله  چې بیا له خپلو شیطان صفته سردارانو سره په خلوت کی شی نو ورته وایی موږ( په حقیقت کې) ستاسو ملګری یو، خو په ( مسلمانانو) باندې صرف مسخرې او ملنډې وهو.**

ٱللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ١٥

**الله تعالی دوی ته ( د ټوکو او مسخرو) په سزا کې، نور مهلت هم ورکوی تر څو په خپل بغاوت او سرکشی کی لا زیات ډوب او لالهانده شی.**

أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُا۟ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت تِّجَٰرَتُهُمْ وَمَا
كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ١٦

**دا هغه خلک دی چې د هدایت په بدل کی یې ګمراهی په بیه اخستې خو پخپل دغه تجارت کی سخت زیانمن او تاوانی شوی او د هدایت لاره یې پریښودې ده.**

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ ٱلَّذِى ٱسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّآ أَضَآءَتْ مَا حَوْلَهُۥ ذَهَبَ
ٱللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِى ظُلُمَٰتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾

**د دغو کسانوحال کټ مټ هغه چاته ورته دی چې په (تپه تیاره ) کی یی اور بل کړی وی او چار چاپیر یی وربا‌ندی ټول روښانه وی خو ناڅاپه ورنه، الله تعالی دغه روښنایی واخلی او دوی په تپه تیاره کی پاتې( او لاس پښنی وهی)خو هیڅ شی نشی لیدلی.( همدغه حال د منافق دی، چې د شرک په تیارو کی ژوند کوی خو کله چې یې زړونه د اسلام او ایمان په نور روښانه شی، بیر ته د کفر لاره ونیسی او د کفر او نفاق له امله یې د ایمان نور خاموشه او د ګمراهۍ تیاره وربا‌ندې راخپره شی.)**

صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾

**( دوی) کاڼه دی( چې د حق د منلو لپاره وعظ او نصیحت نه اوری)، ګونګیان دی( چې د حق ویلو استعداد یې له لاسه ورکړی) او ړانده دی( چې حقایق نه وینی نو ځکه خو د هدایت لاری ته) نه راګرځی.**

أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ
ءَاذَانِهِم مِّنَ ٱلصَّوَٰعِقِ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ ۚ وَٱللَّهُ مُحِيطٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩﴾

**یایی حال د هغه چا سره ورته وګڼئ چې په توره تیاره کی ، د تالندې اوبرښنا په درزهار او پړکار کی سخت باران راایسار کړی وی او د تندریزو آوازونو او مرګ څخه د نجات لپاره یی دواړه ګوتې په غوږونو کې ایښې وی، خو کافران( نه وپوهیږی چې) له هری خوا د الله پاک( د امر) په ولکه کی دی (او له الهی عذابه هیڅکله او هیڅ ځای خلاصیدلی نشی.)**

يَكَادُ ٱلْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَٰرَهُمْ ۖ كُلَّمَآ أَضَآءَ لَهُم مَّشَوْا۟ فِيهِ وَإِذَآ أَظْلَمَ
عَلَيْهِمْ قَامُوا۟ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَٰرِهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ
كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

**نږدې ده چې برښنا یې سترګې ړندې کړی، کله چې د برښنا پړک لاره رڼا کړی، دوی هم یو ګام دوه واخلی او که تیاره شی نو ځای په ځای ولاړ وی او که الله تعالی وغواړی نو د اوریدو او لیدلو(سماعت او بصارت) طاقت به تری هم واخلی ځکه چې الله تعالی په هر کار برلاسی دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ
لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١

**ای بشری پرګنو! د خپل هغه رب ستاینه او عبادت وکړئ چې تاسو او ستاسو نه وړاندی ټول امتونه یی پیدا کړی دی،( تر څو د عبادت په وسیله پاک شئ) او د پرهیزګارئ لار خپله کړئ.**

ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ
تَعۡلَمُونَ ٢٢

**الله تعالی هغه ذات دی چې ځمکه یی ستاسو له پاره هواره وغوړوله( او هغه یی درته د اوسیدو وړ وګرځوله) او آسمان یی ( د هغه له ټولو اجرامو او ستورو سره) د یوی ماڼۍ په شکل جوړ کړ او له آسمانه یی اوبه راوورولی چې د ( نباتاتو، ونو او) میوو د پیدایښت او ستاسو له پاره د روزۍ وسیله شی، نو له الله پاک سره په الوهیت کې نور هیڅوک مه شریکوئ، په داسی حال کی چې تاسی( د خپل فطرت له مخی په دی ) پوهیږئ (چې له الله تعالی سره شرک یو ناوړه کار او سخت ظلم دی.)**

وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا فَأۡتُواْ بِسُورَةٖ مِّن مِّثۡلِهِۦ
وَٱدۡعُواْ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ٢٣

**او که تاسو د هغه (قرآن) په باب چې مونږ پخپل بنده (محمد صلی الله علیه وسلم) نازل کړی، شک لرئ( او هغه د بشر د لاس جوړ شوی ګڼئ) نو که ربښتونی یاست، همداسې یو سورة جوړ کړئ ( چې په فصاحت او بلاغت،ادبی ښکلا، او اعلی محتوا کې له مبارک قرآن سره سیالی وکړی)او تاسو په دغه کار کی د الله تعالی نه غیر، خپل همکاران ( یعنی د عربی ژبی او ادب عالمان او استادان) هم خپلی مرستی ته رابللی شئ.**

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ
وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤

او که دغه کار مو و نه کړ او بیشکه چې کولی یې نشئ نو( باید اعتراف وکړئ چې بې له شکه، دا قرآن د الله تعالی له خوا نازل کړی شوی کتاب دی. په دغه اعتراف سره به ) له هغه اوره ځان وساتئ چې خس او خاشاک به یې انسانان او تیږی( کافران او د دوی بتان ) وی،(هغه اور چې) د کافرانو له پاره تیار شوی دی.

وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ٢٥

او هغو کسانو ته چې ایمان راوړی او نیک عملونه کوی ، د هغو جنتونو زیری ورکړه چې د(ګڼو ګورو ونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې روانی دی او کله چې ورته د جنت تیاری شوی او رسیدلی میوی راوړاندی شی وایی به چې دا ډول په دنیا کی هم زمونږ روزی وه او د میوو بیلابیل ډولونه به چې په شکل او رنګ کی سره ورته( خو په خوند، بوی او لطافت کې به ترې کاملاً بهترې وی) هغوی ته راوړل شی، هلته د دوی له پاره( له ظاهری او باطنی نجاساتو نه) پاکی میرمنی دی او همدغه جنتونه د دوی دایمی او ابدی هستوګنځی دی.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَسۡتَحۡيِۦٓ أَن يَضۡرِبَ مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَاۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَيَعۡلَمُونَ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّهِمۡۖ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرٗا وَيَهۡدِي بِهِۦ كَثِيرٗاۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا ٱلۡفَٰسِقِينَ ٢٦

بیشکه چې الله تعالی ( د خلکو د پوهونی له پاره) د غوماشی یا هم له هغه نه د بل کوم کوچنی موجود د مثال په وړاندی کولو کی شرم نه کوی او مؤمنان پوهیږی چې دغه مثال د دوی د رب له خوا استول شوی او حق دی، خو کافران ( د لجوجانه اعتراض په توګه) وایی چې د غوماشی د مثال راوړلو نه د الله اراده څه ده؟ الله

تعالی د دا ډول مثالونو په وړاندی کولو سره ډیر خلک بی لاری کوی او ډیر نور بیا د هدایت په لاره برابروی او وربانديْ ګمراهی یوازی د فاسقانو په برخه ده.

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَـٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَـٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾

دا هغه کسان د ی چې له الله تعالی سره خپلی کړې وعدی ماتوی او( له پیغمبرانو، دینی واعظانو، خپلو خپلوانو او ملی او بین المللی دوستانو او نیکو چارو او اعمالو سره) هغه اړیکی پری کوی چې الله تعالی یی د ټینګښت او تداوم سپارښتنه کړې، او هم په ځمکه کی د فساد او ګډوډۍ پرله پسې هلی ځلی کوی( خلک له اسلام نه زړه توری کوی او مخالفین د مسلمانانو په ضد جنګ جګړو ته هڅوی، خو بیشکه چې په خپلو دغو ناوړه اعمالو سره) له سخت تاوان سره مخامخ دی.

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَـٰكُمْ ۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٨﴾

ولی د الله تعالی له ذات نه منکریږۍ، او( فکر نه کوۍ چې) تاسو مړه( او بی روحه نطفې) واست ،نو ژوندی یې کړۍ ( د مور په رحم کی یی درته روح درکړ او په دې دنیا یی د ژوند نعمت در په برخه کړ) بیا مو مړه کوی او بیا به مو ( د قیامت په ورځ) راژوندی کوی او( د خپلو اعمالو د نتایجو لپاره به) د هماغه(الله تعالی حضور) ته ورګرځۍ.

هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَـٰوَٰتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٩﴾

(الله پاک) هغه مقتدر ذات دی چې د ځمکې ټول شیان یی ستاسو د (خیر ښیګڼی) له پاره پیدا کړل او بیا یی د آسمان جوړښت ته اقدام وکړ او( د یوه منظم نظام، لرونکی) اوه آسمانونه یی جوړ کړل او الله تعالی د هر څه ( په قوانینو او محاسباتو) پوه ذات دی.

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوٓاْ
أَتَجْعَلُ فِيهَا مَن يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ
بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾

**او کله چې ستا رب پرښتو ته وویل زه په ځمکه کی یو خلیفه ( انسان) پیداکوم ( یو څه محدود اختیارات هم ورکوم. پرښتو ( داستفهام په توګه) وویل آیا په ځمکه کی داسې خلیفه ټاکی چې ( د خپلو اختیاراتو نه په استفادی سره به ) فساد او ګډوډی جوړوی او وینی به تویوی ( په داسې حال کې چې) مونږ ستا تسبیح او پاکی بیانوو .(الله پاک) وفرمایل په هغه څه چې زه پوهیږم، تاسوورباندی نه پوهیږئ.**

وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ
أَنۢبِـُٔونِي بِأَسْمَآءِ هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾

**او(الله تعالی) د ټولو شیانو نومونه (علم او خاصیتونه) آدم ته ورزده کړل او بیایی ملایکو ته وړاندی کړل او ورته یی وویل که رښتونی یاست نو د دغو شیانو نومونه راته واخلئ.**

قَالُواْ سُبْحَٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَلِيمُ
ٱلْحَكِيمُ ﴿٣٢﴾

**(پرښتو) وویل: ته پاک ذات یې،مونږ یوازی په هغه څه پوهیږو چې تا یې مونږ ته پوهه راکړې، بیشکه چې ته ښه پوه او د کامل حکمت لرونکی یی.**

قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ أَنۢبِئْهُم بِأَسْمَآئِهِمْ ۖ فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم بِأَسْمَآئِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل
لَّكُمْ إِنِّيٓ أَعْلَمُ غَيْبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا
كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٣٣﴾

(الله تعالی) آدم ته امر وکړ چې د شیانو نومونه ورته بیان کړه. کله چې آدم ټول نومونه (او د هغوی خواص) ذکر کړل، (الله پاک پرښتو ته) وویل: درته مې نه وو ویلی چې د آسمانونو او ځمکې اسرار یوازی ماته معلوم دی او ستاسو په پټو او ښکاره اعمالو هم ډیر ښه خبر یم.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ
وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾

او کله چې مونږ ملائکو ته امر وکړ چې آدم ته ( د تعظیم) سجده وکړی ټولو ( د ادب او احترام د سجدې مراتب) په ځای کړل خو یوازی ابلیس په تکبر سره انکار وکړ او په کافرانو کی شامل شو.

وَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ
شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾

او مونږ آدم ته امر وکړ چې له خپلی میرمنی سره په جنت کی واوسه او څه چې مو خوښ وی، هر چیرې یې پریمانه خورئ، خو پام چې دغی یوی ونی ته نږدی نشی که نه په ظالمانو کی به وشمیرل شی.

فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا ٱهْبِطُوا۟
بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾

خو شیطان هغوی دواړه تیرویستل( پخپله لومه کې یې ښکیل او زمونږ له اوامرو نه سرغړونی ته یې وهڅول، د جنت له هوسا ژوند او الهی نعمتونو نه یې بی برخی کړل او بالاخره ورته) الهی فرمان ابلاغ شو چې ټول (ځمکی ته) ښکته شئ (او ستاسو د نسل څخه به) ځینې له ځینو نورو سره دښمنان وی.

فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾

بیا آدم له خپل رب نه د بخښنی غوښتو له پاره څو کلمی( ربنا ظلمنا انفسنا وان لم تغفرلنا و ترحمنا لنکونن من الخسرین)زده کړې چې( د هغو د ذکر په نتیجه کی) ورته الله تعالی بخښنه وکړه . بیشکه چې الله پاک ډیر ښه توبه منونکی او مهربان ذات دی.

قُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَاىَ
فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

امر مو ورته وکړ چې ټول( له جنت نه ځمکی ته) کوز شی، که زما له لوری کوم هدایت( او فرمان) درشی، نو څوک چې زما لارښوونه( او اوامر) ومنی له هر ډول ویری ترهی او پریشانی نه به په امن وی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا
خَـٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾

او هغه کسان چې د کفر لار غوره کړی او زما آیتونه دروغ( او بی ارزښته) وګڼی، دوی د دوزخ هستوګن دی چې د تل له پاره به پکې پراته وی.

يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا۟ بِعَهْدِىٓ أُوفِ
بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّـٰىَ فَٱرْهَبُونِ ﴿٤٠﴾

ای بنی اسرائیلو! هغه نعمتونه او لورینی چې په تاسو می کړی را یادې کړئ ( ورباندی فکر وکړی او شکر یی په ځای کړئ) او په خپل هغه عهد او پیمان( چې د ایمان او نیک عمل او په پیغمبرانو باندی د پوره باور او عقیدې لرلو له پاره مو) زما سره کړی، ټینګ ودریږئ، زه به هم خپله وعده ( چې پوره اجر او جنت دی) ستاسو سره پوره کړم او یوازی له ما نه وویریږئ.

وَءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوٓا۟ أَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهِۦ ۖ
وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّـٰىَ فَٱتَّقُونِ ﴿٤١﴾

او په هغه کتاب(قرآن) ایمان راوړئ چې ما( په محمد صلی الله علیه وسلم ) نازل کړی او ستاسو سره د موجودو (آسمانی کتابونو) تائید او تصدیق کوی او تاسو باید د دې کتاب ( قران) د منکرینو مخکښان نشئ ( بلکه په لومړنیو مؤمنانو کی شامل شئ) د بې ارزښته دنیوی ګټو په مقابل کی زما آیتونه مه خرڅوئ، زما له عذابه وویریږئ ( او د هدایت په لاره روان شئ).

وَلَا تَلْبِسُوا۟ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا۟ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤٢﴾

( د الله تعالی له لوری نازل شوی) حق له باطل سره مه ګډوئ( او د محمد صلی الله علیه وسلم د صداقت او نبوت) حقیقت، چې ښه درته معلوم او ثابت دی، مه پټوئ.

وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرْكَعُوا۟ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ ﴿٤٣﴾

لمونځونه اداء کړئ، زکاتونه ورکړئ او له نورو لمونځ کوونکو سره په جماعت لمونځونه وکړئ ( او له مخلصو او فرمانبردارو مؤمنانو سره یو ځای د الله تعالی اوامرو ته غاړه کیږدئ).

۞ أَتَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ بِٱلْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ
أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

ایا تاسو، خلکو ته د نیکو اعمالو( او له ګناهونو نه د اجتناب) توصیه کوئ او خپل ځانونه مو هیر کړی په داسی حال کی چې د کتاب( تورات) تلاوت هم کوئ ( چې دغه کار پکی مردود ګڼل شوی) نو عقل مو پکار واچوئ ( او څه چې وایئ په عمل کی یی په ځان هم تطبیق کړئ)

وَٱسْتَعِينُوا۟ بِٱلصَّبْرِ وَٱلصَّلَوٰةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلْخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾

د صبر او لمانځه په وسیله ( له الله پاک نه ) مرسته وغواړئ ، که څه هم دا درونده کار دی خوعاجزی کوونکو( د اطاعت او عبادت خوښوونکو) ته هیڅ سخت نه دی.

ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُوا۟ رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَٰجِعُونَ ﴿٤٦﴾

د دې کسانو پوخ باور دا دی چې( د قیامت په ورځ د حساب کتاب لپاره) له خپل رب سره ملاقات کوونکی او الهی دربار ته ورګرځیدونکی دی.

يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتِىَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّى فَضَّلْتُكُمْ عَلَى
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾

ای بنی اسرائیلو! هغه نعمتونه رایاد کړئ چې په تاسو می لورولی او تاسو ته می( ستاسو د عصر) په نورو تولو امتونو برتری درکړه.

وَٱتَّقُواْ يَوْمًا لَّا تَجْزِى نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَٰعَةٌ وَلَا
يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

او د هغې ورځې (له حساب کتاب) نه وویرېږئ چې هیڅوک به د بل چا ستونزې حل نه کړی شی، نه به د چا سپارښتنه قبلیږی ، نه به( د گناه په مقابل کی) فدیه اخستل کیږی او نه به ( د دوزخ له اوره د خلاصون له پاره) د چا سره کومه مرسته کیږی.

وَإِذْ نَجَّيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ
أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ
عَظِيمٌ ﴿٤٩﴾

او هغه ( یاد کړئ) چې تاسو مو د فرعون ( د ظالم حکومت له منگولو) خلاص کړئ،هغه (حکومت) چې تاسو به یی په بی رحمئ سره شکنجه کو لئ، زامن به یی درله قتلول اونجونی به یې درله د (وینځو په حیث) ژوندئ ساتلې او په دغو سختیو او شکنجو کی ستاسو د رب ستر ازمایښت پروت و.

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ ٱلْبَحْرَ فَأَنجَيْنَٰكُمْ وَأَغْرَقْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ وَأَنتُمْ
تَنظُرُونَ ﴿٥٠﴾

او (یاد کړئ )هغه چې ( ستاسو د نجات له پاره مو) دریاب دوه نیمه کړ،تاسو مو ترې روغ رمټ تیر کړئاو فرعونیان مو په داسی حال کی ډوب کړل چې تاسو ورته کتل.

وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ
ظَٰلِمُونَ ﴿٥١﴾

او هغه وخت( رایاد کړئ) چې مونږ (د تورات د نزول له پاره ) له موسی سره د څلویښتو شپو وعده وکړه خو( کله چې هغه د طور غره ته لاړ )تاسو د هغه په غیاب کی د خوسی عبادت ته مخه کړه او ( په دغه ناوړه عمل سره) د سخت ظلم مرتکب شوئ.

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٥٢﴾

**خو مونږ له دې وروسته هم درته بخښنه وکړه( او ستاسو توبه مو قبوله کړه) تر څو شکر په ځای کړئ ( او د الله تعالی ښیګڼه ومنئ).**

وَإِذۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ٥٣

**او هغه وخت (یاد کړئ) چې مونږ موسی ته کتاب (تورات) او فرقان( معجزې او شرعی احکام) ورکړل چې ( د حق او باطل، حرام او حلال،مؤمن او کافر تفکیک یې پرې کاوه)  تر څو تاسو د هدایت لاره غوره کړئ.**

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِنَّكُمۡ ظَلَمۡتُمۡ أَنفُسَكُم
بِٱتِّخَاذِكُمُ ٱلۡعِجۡلَ فَتُوبُوٓاْ إِلَىٰ بَارِئِكُمۡ فَٱقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ
عِندَ بَارِئِكُمۡ فَتَابَ عَلَيۡكُمۡۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ٥٤

**او (هغه هم درياد کړئ) چې موسی خپل قوم ته وويل: ای زما قومه د خوسی په عبادت سره مو په ځانونو سخت ظلم وکړ نو اوس بیرته خپل رب ته توبه وباسئ او خپل هغه کسان (چې د خوسی پرستش یی کړې) ووژنئ دا ستاسو د رب په نزد ستاسو لپاره غوره کار دی.نو الله تعالی ( د خپل دغه فرمان د تطبیق نه وروسته)ستاسو توبه قبوله کړه، بیشکه چې الله پاک ډیر زیات توبه منونکی مهربان ذات دی.**

وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ
ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ ٥٥

**او هغه هم را په زړه کړئ چې( د طور په غره کی مو سره له دې چې د الله تعالی خبرې  واوریدې،خو) موسی ته مو وویل:( مونږ په دغو خبرو باور نه کوو) او تر هغه دربانده ایمان نه راوړو  ترڅو په خپلو سترګو الله تعالی  و نه وینو،  بیامو کتل چې یو مرګونی تندر دربانده راپریوت( او ټول د مرګ په کومی ورننوتئ).**

ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٥٦

**بیا مو له مرګ نه وروسته بیرته راژوندی کړئ تر څو شکر په ځای کړئ.**

وَظَلَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡغَمَامَ وَأَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰۖ كُلُواْ مِن
طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
يَظۡلِمُونَ ٥٧

**او( په تاسو زمونږ بل نعمت او احسان دا هم و، چې د سينا په سوزوونکی بيديا کی ) مو دربادی د وريځی سيوری جوړ کړ او من او سلوی مو درته نازله کړه او ( درته مو وويل) دغه پاکه روزی وخورئ چې ستاسو په برخه ده. خو ( ستاسو اسلافو چې د دغو نعمتونو په وړاندی يې هم ناشکری وکړه). په مونږ يې ظلم و نه کړ، بلکه (په حقيقت کی يې) له خپل ځان سره زياتی وکړ.**

وَإِذۡ قُلۡنَا ٱدۡخُلُواْ هَٰذِهِ ٱلۡقَرۡيَةَ فَكُلُواْ مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ رَغَدٗا وَٱدۡخُلُواْ
ٱلۡبَابَ سُجَّدٗا وَقُولُواْ حِطَّةٞ نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطَٰيَٰكُمۡۚ وَسَنَزِيدُ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٨

**او هغه( رایاد کړئ) چې مونږ درته وويل دغه ښار( بيت المقدس) ته ننوزئ او هرڅه چې مو خوښ وی، په هره برخه کې يې پريمانه( او په مزه) وخورئ او د ښار له دروازې نه په خضوع او خشوع سره تيرشئ او د مغفرت دعا وغواړئ ( او د ښار خلکو ته عامه معافی اعلان کړئ) مونږ به ستاسو ګناهونه وبښو او نيکانو ته به مو لا زيات اجر ورکړو.**

فَبَدَّلَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ قَوۡلًا غَيۡرَ ٱلَّذِي قِيلَ لَهُمۡ فَأَنزَلۡنَا عَلَى
ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رِجۡزٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ٥٩

**خو ظالمانو هغه ( د دعا او عمومی عفوې) الفاظ چې ورته ښودل شوی وو، په بله واړول او ( د ښښنې د اعلان په ځای يی هلته د لوټ مار او تخريب او فساد بازار تود کړ) نو مونږ هم د دوی د پرله پسی نافرمانئ او سرکشئ له امله وربادې سخت آسمانی عذاب( طاعون)نازل کړ( چې په يوه ورځ يې شاوخوا اويا زره کسان د مرګ په کومی وردننه کړل).**

۞ وَإِذِ ٱسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ فَقُلْنَا ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ
فَٱنفَجَرَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ
كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ مِن رِّزْقِ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٦٠﴾

او کله چې موسی ( علیه السلام ) د خپل قوم لپاره چې ( له سختی تندی سره مخامخ وو) له الله تعالی نه اوبه وغوښتی مونږ ورته امر وکړ چې ډبره په خپله امسا ووهه نو دولس چینی تری راوخوټیدې چې ( د بنی اسرائیلو دولسو قبیلو) هرې یوې خپله خاصه چینه پیژندله ( او ورته مو وویل:) د الله تعالی له خوا درکړی شوې روزی وخورئ او وڅښئ خو په ځمکه کی فساد او تباهی مه جوړوئ.

وَإِذْ قُلْتُمْ يَـٰمُوسَىٰ لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَٰحِدٍ فَٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ
لَنَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ مِنۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا
وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ ٱلَّذِى هُوَ أَدْنَىٰ بِٱلَّذِى هُوَ خَيْرٌ ۚ
ٱهْبِطُوا۟ مِصْرًا فَإِنَّ لَكُم مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ ٱلذِّلَّةُ
وَٱلْمَسْكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ ٱللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا۟
يَكْفُرُونَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا
عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٦١﴾

او( هغه رایاد کړئ) چې تاسو موسی ته وویل : مونږ نور په یو ډول خوراک( من او سلوی) قناعت نه شو کولی نو خپل رب ته دعا وکړه چې مونږ ته د ځمکې پیداوار لکه ترکاری،بادرنګ،ترې،اوږه ، غنم ، دال او پیاز راکړی. موسی علیه السلام وویل آیا خپله غوره روزی په دغو بی اهمیته شیانو بدلوئ،( چې هرومرو مو خوښه ده) نو ښار ته لاړ شئ ( کر کرونده شروع کړئ ) دغه ځمکنی تولیدات به په لاس درشی.په پای کی

ورباندئ تحقيراو سپكاوى،فقر او تنګلاسى مسلط شوه او د الله تعالى په قهر او غضب اخته شول ځكه دوى هم د الله تعالى د آيتونو په مقابل كې كفر غوره كړ، او هم يې پيغمبران په ناحقه ووژل ، همدا وه له شرعى حدودو نه د دوى د انحراف او سركشىٔ سزا.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَٱلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

په يقين سره هغه كسان چې ( د محمد صلى الله عليه وسلم پيروان دى او په پخوانيو پيغمبرانو هم ايمان لرى)او يهوديان ،عيسويان او صابيان( چې د خپل خپل عصر د پيغمبر په اطاعت يې) په الله او د آخرت په ورځ ايمان راوړى وى او د غوره او نيكو اعمالو څښتنان وى نو د الله جل جلاله په نزد ورته اجر او ثواب دى، نه به پرى ويره وى نه غم.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱذْكُرُوا۟ مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾

او( اى بنى اسرائيلو! ياد كړئ) هغه چې مونږ له تاسو نه ( د حق د پيروئ) عهد واخست او د طور غر مو درباندئ راپورته( او بيا راخوړند كړ او درته مو وويل: د آسمانى كتاب يعنى تورات آيتونه او لارښوونې) چې تاسو ته دركوم ښه په قوت سره زده او تطبيق كړئ تر څو له ګناهونو نه پاك وساتل شئ.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٦٤﴾

خو همدا تاسو واست چې خپله وعده مو ماته كړه ( له اطاعت او عبادت نه مو مخ واړاوه ) او كه د الله تعالى رحمت او مهربانى درباندئ نه وى لوريدلى ( او مهلت يې نه وى دركړى او عذاب يې نه وى ځنډولى) نو تاسو به د زيانمنانو په ډله كې شامل وى.

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلَّذِينَ ٱعْتَدَوْا۟ مِنكُمْ فِى ٱلسَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا۟ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ﴿٦٥﴾

او د خپلو هغو کسانو حال او انجام هم درته ښه معلوم دی چې ( د شنبې د ورځې د کبانو ښکار وربانديې حرام شوی و، خو) دوی د الله پاک له حکم نه تيری وکړ ( او په چل او فريب يې کبان نيول) نو مونږ ورته ( د سزا ورکولو لپاره ) امر وکړ چې د خوارو او سپکو بيزوګانو په شان مسخ شی( له دغه امر سره سم د دوی ځيرې د بيزوګانو په شان شوې او که څه هم انسانی شعور او پوهه يې لرله او يو بل ته به يې کتل خو خبرې به يې سره نه شوې کولی او له دريو ورځو پرله پسې ژړا نه وروسته ټول مړه شول).

فَجَعَلْنَٰهَا نَكَٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٦٦﴾

مونږ دغه عذاب د هماغې زمانې د خلکو او د هغوی د ورپسې نسلونو له پاره د عبرت درس وګرځاوه او د ټولو پرهيزګارانو له پاره پکی هم لوی پند او نصيحت پروت دی.

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تَذْبَحُوا۟ بَقَرَةً ۖ قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٦٧﴾

او هغه( درپه ياد کړئ) چې موسی خپل قوم ته ( چې قتل پکی شوی و او قاتل ورک و) وويل : الله تعالی درته امرکوی چې يوه غوا حلاله کړئ ( تر څو د قاتل د معلومولو کار ترې واخستل شی) ، د قوم خلکو وويل : ته اوس په مونږ ملنډی وهې؟ موسی وويل الله پاک ته پناه وړم له دې چې په جاهلانو کی وشميرل شم( او په خلکو ملنډی ووهم.)

قَالُوا۟ ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِىَ ۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَٱفْعَلُوا۟ مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾

قوم يی وويل: الله تعالی ته دعا وکړه چې د غوا ماهيت او څرنګوالی بيان کړی( چې څه ډول غوا بايد حلاله شی).موسی وويل: (واورئ) الله تعالی فرمايی غوا بايد نه ډيره زړه او عمر خوړلی وی او نه ډيره تنکی او کم عمره، بلکه د منځنی عمر لرونکی ځوانه وی او څه چې درته امر کيږی بايد عملی يی کړئ.

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا
بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ ﴿٦٩﴾

**قوم یی وویل : له الله تعالی نه، د غوا د رنګ پوښتنه هم وکړه. موسی وویل:( د کائناتو خالق) فرمایی چې غوا زیړه ځلیدونکی ده چې هر لیدونکی یی په لیدلو خوښیږی.**

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ ٱلۡبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيۡنَا وَإِنَّآ
إِن شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهۡتَدُونَ ﴿٧٠﴾

**(قوم یی) وویل: د رب نه دی نوره تشریح هم وغواړه تر څو غوا، ښه مشخصه شی ( ځکه غواګانی ډیری دی او) مونږ یی په پیژندلو کی زړه نازړه شوی یو.دا ځل به که خدای کول( د هغې په کره پیژندګلوی کی) کامیاب شو.**

قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ لَّا ذَلُولٞ تُثِيرُ ٱلۡأَرۡضَ وَلَا تَسۡقِي ٱلۡحَرۡثَ
مُسَلَّمَةٞ لَّا شِيَةَ فِيهَاۚ قَالُواْ ٱلۡـَٰٔنَ جِئۡتَ بِٱلۡحَقِّۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُواْ
يَفۡعَلُونَ ﴿٧١﴾

**(موسی) وویل:(الله پاک) فرمایی: داسې غوا ده چې نه ترې د ځمکې د کرکیلې لپاره کار اخستل شوی او نه پری کښتونه خړوب شوی ، په تن روغه رمټه او پوستکی یی داسی یو رنګه دی چې هیڅ داغ وربان‌دی نشته. (قوم یی) وویل اوس دې پوره او حقیقی نښه راوړه.غوا یی حلاله کړه ( په داسې حال کی چې ) وړاندی یې دغه کارته غاړه نه ایښوده.**

وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ﴿٧٢﴾

**او هغه ( رایاد کړئ چې ستاسو پلرونو) یو سړی وواژه خو د قاتل په پیژندګلوئ کی سره په نزاع او لانجه اخته شوئ( او یوبل مو په قتل تورنول) خو د الله تعالی فیصله داوه تر څو هغه اسرار راوسپړی چې تاسو یی د پټولو هڅه کوله.**

فَقُلْنَا ٱضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْىِ ٱللَّهُ ٱلْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٧٣﴾

نو درته مو امر وکړ چې د هغې (حلالی کړی شوې غوا) په یوه ټوټه، مړی ووهی( تر څو راژوندی شی او خپل قاتل در وپیژنی او له همدغی عملیی سره سم مړی ژوندی شو او د خپل قاتل له معرفی کولو وروسته بیرته وغورزید او مړ شو.) همدا شان ، الله پاک( د قیامت په ورځ هم)مړی راژوندی کوی او تاسو ته خپل( د قدرت او ربوبیت) دلایل دربښیی تر څو له عقل نه کار واخلئ ( او وپوهیږئ چې له مرګه وروسته به بیاهم راژوندی کیږئ).

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾

( له دې حیرانووکې معجزې له لیدو سره سره) بیا هم ستاسو زړونه د ډبرو په شان سخت شول بلکه له ډبرو نه لا نور هم زیات سخت زړی شوئ ځکه ځینی ډبرې شته چې ویالی ترې بهیږی( او خلکو ته یې ګټه رسیږی) ، ځینی بیا پړک وچوی او( لږې لږې) اوبه ترې روانې شی او ځینی نورې بیا ( له خپل لوی والی سره سره) د الله تعالی له ویرې ښکته راپریوزی(خو ستاسو زړونه له دغو دریواړو ډولو تیږو نه هم زیات سخت دی. (ای یهودیانو! ښه پوه شئ چې) الله تعالی ستاسو له کړنو ناخبره نه دی.

۞ أَفَتَطْمَعُونَ أَن يُؤْمِنُوا۟ لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

**( ای مؤمنانو!)آیا تاسو لا په دې هیله یاست چې( دغه سخت زړی یهودیان به ستاسو دین درسره ومنی او) مسلمانان به شی ،په داسې حال کی چې په دوی کی به ځینو( راهبانو او روحانیونو) د الله تعالی کلام ( تورات ) واورید او چې ښه به یی( په معنی او مفهوم) پوه شول ( د دنیوی مادی ګټو د لاسته راوړلو له پاره) به یی پکی( د خپلی خوښی) تحریفات شروع کړل او ښه پوهیدل (چې د دوی دغه عمل د الله له کلام او حق پالونکو خلکو سره لوی خیانت دی.)**

وَإِذَا لَقُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوٓاْ أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾

**او کله چې له مؤمنانو سره مخامخ شی نو وایی مونږ هم ایمان راوړی ( او منو چې تاسو په حقه یاست او په تورات کی هم د محمد د پیغمبری د حقانیت ذکر شوی ) خو بیا په خپلمنځی پټو غونډو کی یو بل سخت رټی او ورته وایی چې ولی په لوی لاس مسلمانانو ته حقایق او دلایل په لاس ورکوی، تر څو بیا (د قیامت په ورځ) له دغو معلوماتو سره د الله تعالی په وړاندې ستاسو سره استدلال وکړی( او تاسو پخپلو خبرو ملامته کړی. آیا له عقل نه کار نه اخلی؟**

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾

**آیا( دغه سخت زړی یهودیان) نه پوهیږی چې الله تعالی د دوی په ټولو پټو( عقایدو) او ښکاره( اعمالو او کړنو) ښه خبر دی.**

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾

**او د یهودو یوه ډله جاهلان او نالوستی دی چې په کتاب( تورات) نه پوهیږی خو په هغو ارزوګانو او ګومانونو پورې یی زړونه تړلی(چې د دوی خاینو علماو او مشایخو ورته له ځانه بیان کړی،او ورته وایی چې له یهودیانو نه غیر، هیڅوک جنت ته نشی داخلیدی) .**

**فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ ٱلْكِتَٰبَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ**
**عِندِ ٱللَّهِ لِيَشْتَرُوا۟ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتْ**
**أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُم مِّمَّا يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾**

**تباهی او هلاکت دی په هغه چا چې په خپل لاس کتاب ولیکی او بیا یې د څه نا څه دنیوی ګټې لپاره( الله تعالی ته منسوب کړی او) ووایی چې دا خو د الله تعالی له خوا رانازل شوې لیکنه ده. و دې سوزی د دوی دغه ( جعلی) لیکنې او برباده دې وی د دوی دغه حرامه او ناروا ګټه وټه.**

**وَقَالُوا۟ لَن تَمَسَّنَا ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ۚ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ**
**ٱللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ عَهْدَهُۥٓ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا**
**تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾**

**او وایی( که مونږ هر څومره ګناهکاران هم شو خو) صرف څو د شمار ورځی به په دوزخ کی تیروو.(ای پیغمبره) ورته ووایه آیا په خپله دغه عقیده مو له الله پاک نه کومه وعده اخستی؟( که یی لرئ) نو یقینا چې الله تعالی خپله وعده نه ماتوی (خو چې کومه وعده مو نه ده اخستې ) نو آیا په جاهلانه توګه په الله تعالی پوری( درواغ) تړئ؟**

**بَلَىٰ مَن كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَٰطَتْ بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ**
**أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨١﴾**

**هو، څوک چې د ګناه مرتکب شی او ګناهونه یی( له احساس، وجدان او ټول وجود نه) راچاپیر شی دغه کسان دوزخیان دی او تل ترتله به پکی اوسیږی.**

**وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ**
**هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨٢﴾**

**او هغه کسان چې  ایمان راوړی او نیک اعمال سرته رسوی جنتیان دی او جنت به یی همیشنی هستوګنځی وی.**

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ
إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَقُولُوا۟ لِلنَّاسِ
حُسْنًا وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا
قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾

**او ( هغه را یاد کړئ چې) مونږ له بنی اسرائیلو نه تعهد واخست چې  له الله تعالی نه غیر به، د بل چا عبادت نه کوی،له مور پلار، خپلو خپلوانو،یتیمانو او بی وزلانو سره به ښیګڼه کوی، له خلکو سره  به ښی( او په ادب خبری) کوی، د لمانځه نظام به قایموی او زکاتونه به ورکوی، خو بیا له لږ شمیر نه غیر، تاسو ټولو له خپل تعهد  نه  مخ وګرځاوه او په شا شوئ.**

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم
مِّن دِيَٰرِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

**او کله چې مو له تاسو نه ټینګ عهد واخست چې د یو بل وینې به نه تویوئ او خپل  خلک به له کلیو کورونو،نه شړئ،بیا تاسو په دغه تړون اقرار وکړ او نن هم  پخپلو( وعدو) ګواهی ورکوئ.**

ثُمَّ أَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ تَقۡتُلُونَ أَنفُسَكُمۡ وَتُخۡرِجُونَ فَرِيقٗا مِّنكُم مِّن
دِيَٰرِهِمۡ تَظَٰهَرُونَ عَلَيۡهِم بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَإِن يَأۡتُوكُمۡ أُسَٰرَىٰ
تُفَٰدُوهُمۡ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيۡكُمۡ إِخۡرَاجُهُمۡۚ أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ
ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ
مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ
ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥

**خو اوس همدا تاسو یاست چې خپل خلک( یوه قبیله د بلې قبیلې کسان) وژنی او له کلیو او کورونو یی په زور ظلم شړی او په ګناه او تیری کې د یو بل په ضد جنګی ډلې ډلګی جوړوی، او بیا( له جګړې وروسته، غالبه ډله د مغلوبې ډلې ) جنګی اسیران د فدیی په مقابل کې آزادوی (او د فدیی اخستلو لپاره د الله تعالی په کتاب تورات استدلال کوی په داسی حال کی چې، الله تعالی خو په تاسو باندې د یو بل وژل او) بې کوره کول هم حرام کړی دی نو آیا د کتاب په یوه برخه ایمان راوړی او په بله یی کافران کیږی؟( او له نظره یې غورځوی) او که ستاسو له ډلې هر څوک(د دغه ناوړه کار) مرتکب شی (او د الله تعالی له آیتونو سره لوبی وکړی) سزا یی په دنیا کی ذلت او شرمندګی او په آخرت کی سخت (دردوونکی) عذاب دی او (پوه شئ چې ) الله تعالی ستاسو له اعمالو بې خبره نه دی ( او د ګناهونو سزا به مو درکړی).**

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ
ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٨٦

**دا هغه خلک دی چې دنیا یی د آخرت په بیه اخستی او له همدې امله به ورباندې، نه په عذاب کی کمښت راشی او نه به ورسره کومه مرسته او رعایت وشی.**

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَقَفَّيۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِۦ بِٱلرُّسُلِۖ وَءَاتَيۡنَا
عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدۡنَٰهُ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِۗ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ
رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ فَفَرِيقٗا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيقٗا
تَقۡتُلُونَ ﴿٨٧﴾

**( ای یهودیانو! هغه وخت رایاد کړئ) چې مونږ موسی ته تورات ورکړ او له هغه وروسته مو پرله پسې نور پیغمبران واستول او په هغو کی مو بیا عیسی ابن مریم ته معجزی ورکړې ( لکه د مړی ژوندی کیدل، د ړندو بینا کیدل او د پیس د ناروغ رغیدل ) او د روح القدس (جبرئیل) په وسیله مو د هغه تائید او مرسته هم وکړه نو کله چې پیغمبر ستاسو د نفسی خواهشاتو او ارزوګانو ضد احکام بیان کړی، تاسو ترې د تکبر په توګه مخ اړولی؟ او ځینی پیغمبران مو درواغجن ګڼلی، او ځینی مو لا وژلی دی.**

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا غُلۡفُۢۚ بَل لَّعَنَهُمُ ٱللَّهُ بِكُفۡرِهِمۡ فَقَلِيلٗا مَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾

**( او د خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم په وړاندې هم د دوی دریځ دادی چې) وایی، زمونږ زړونه په پردو کی نغښتی او( ستا نوی دعوت ته پکی هیڅ لاره نشته) بلکه( حقیقت دا دی چې) الله تعالی، دوی د کفر په جرم ملعون کړی( له خپل رحمت نه یی بی برخی کړی) او صرف لږ شمیر پکی د ایمان له نعمت نه برخمن دی.**

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ كِتَٰبٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ وَكَانُواْ مِن قَبۡلُ
يَسۡتَفۡتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُواْ
كَفَرُواْ بِهِۦۚ فَلَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾

**او کله چې دوی ته د الله تعالی له لوری هغه کتاب(قرآن )ورسید چې د دوی په لاس کی د شته کتاب ( تورات) تصدیق کوونکی او تائیدوونکی دی او دوی یی ( د تورات د وړاندوینو په اساس ) ښه پیژنی او له دی وړاندی به یی د کافرانو په مقابل کی د فتحی او نصرت دعاګانی هم کولی ( او د قرآن د نزول او آخرزمان پیغمبر راتګ**

**ته به یی شیبې شمارلی) خو اوس ( د حسد او عناد له مخې) د کفر او سرکشی لاره غوره کوی نو د الله تعالی لعنت دی وی په کافرانو( یهودو چې حق پټوی او د باطل دفاع کوی).**

بِئْسَمَا ٱشْتَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بَغْيًا
أَن يُنَزِّلَ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ فَبَآءُو بِغَضَبٍ
عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَـٰفِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٩٠﴾

**ډیر بد دی هغه څه چې دوی ترې خپل ځانونه( او خپله ابدی نیکمرغی) قربانوی او هغه د الله تعالی له نازل کړی شوی( دین او کتاب) سره له دې امله دښمنی او حسادت دی، چې الله پاک( ولې) خپل هر بنده ته چې وغواړی خپل فضل( وحي او رسالت) نازلوی. په دې وجه یهودیان د یوه غضب له پاسه په بل غضب( سخت عذاب) محکوم شول او د( دغه ډول) کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار شوی دی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ ءَامِنُوا۟ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ نُؤْمِنُ بِمَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا
وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَآءَهُۥ وَهُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ
تَقْتُلُونَ أَنۢبِيَآءَ ٱللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾

**او کله چې ورته وویل شی په هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله تعالی( د اسلام په پیغمبر) نازل کړی وایی مونږ په هغه (کتاب) ایمان لرو چې په مونږ( زمونږ په اسرائیل الاصله پیغمبر) نازل شوی، او له بل هر نازل شوی کتاب نه انکار کوی که څه هم هغه حق او له دوی سره د شته کتاب( تورات د تعلیماتو) تائیدوونکی دی.( ای پیغمبره ) ورته ووایه که تاسو په صداقت سره( د تورات په تعلیماتو) ایمان لرئ نو ولې مو پخوا د الله تعالی (هغه) پیغمبران ووژل( چې په اسرائیلو کې) پیدا شوی وو؟**

۞ وَلَقَدْ جَآءَكُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ ٱتَّخَذْتُمُ ٱلْعِجْلَ مِنۢ
بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾

او موسی درته د څرګندو معجزو او دلایلو سره راغی خو تاسو هغه ظالمان واست چې( د هغه په غیاب کې مو څرګندو الهی دلایلو او تعلیماتو ته شا کړه او) د خوسی عبادت ته مو ملا وتړله.

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ ٱلطُّورَ خُذُوا۟ مَآ
ءَاتَيْنَٰكُم بِقُوَّةٍ وَٱسْمَعُوا۟ ۖ قَالُوا۟ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا۟
فِى قُلُوبِهِمُ ٱلْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم
بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٩٣﴾

او هغه میثاق او تعهد رایاد کړی چې له تاسو نه مو د ( موسی د پیروی او اطاعت له پاره) واخست او د طور غر، مو درباندی راپورته( او د تهدید لپاره) راځوړند کړ( او درته مو امر وکړ چې درکړی شوی احکام ټکی په ټکی ومنئ او( د زړه په غوږو یی) واورئ. ستاسو (اسلافو) وویل چې د تورات احکام مو واوریدل، خو منو یې نه. او د همدغه کفر او باطل پرستئ له امله یی د خوسی مینه زړونوته ورسیده. ( ای پیغمبره) ورته ووایه : که مؤمنان یاست ( نو دا عجیبه ایمان دی ) چې تاسو ته د دغه ډول ظلم، جنایت او فساد حکم درکوی.

قُلْ إِن كَانَتْ لَكُمُ ٱلدَّارُ ٱلْءَاخِرَةُ عِندَ ٱللَّهِ خَالِصَةً مِّن دُونِ
ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٩٤﴾

( یهود وایی : له موږ نه غیر هیڅوک جنت ته نشی داخلیدی او نه په موږ کوم عذاب شته) ورته ووایه که تاسو پوره باوری یاست چې د آخرت ټول نعمتونه او هوسایی یوازې ستاسو لپاره ځانګړی دی او نور خلک به پکی برخه نه لری نو( له مرګه ولې ویریږئ) راځئ د خپلې ادعا د صداقت له پاره د مرګ غوښتنه وکړئ.

وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٩٥﴾

خو دوی د خپلو کړیو ګناهونو له امله هیڅکله هم د مرګ غوښتنه نشی کولی او ( پوهیږی چې ) الله تعالی د ظالمانو په کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ
أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن
يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

او درته به معلومه شی چې دوی (یهود) تر ټولو خلکو او حتی له مشرکینو هم زیات،له اوږد ژوند سره حریصانه مینه لری، هر یو غواړی چې زر کاله ژوند وکړی خو اوږد ژوند به یی هم له عذابه ونشی ژغورلی بلکه الله تعالی یې د ټولو اعمالو لیدونکی( او څارونکی)دی.

قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ
مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٩٧﴾

( دوی وایی مونږ ځکه په تا ایمان نه راوړو چې زمونږ دښمن جبرئیل تاته وحی راوړی) ورته ووایه څوک چې له جبرئیل سره دښمنی کوی ( باید پوه شی چې) جبرئیل خو د الله تعالی په امر قرآن ستا په زړه نازلوی او دا کلام د پخوانیو آسمانی کتابونو تصدیق کوونکی او د مؤمنانو لپاره ( د جنت او لقاءالله) د زیری او لارښوونې سرچینه ده.

مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ
فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ ﴿٩٨﴾

څوک چې له الله تعالی، د هغه له ملایکو،استازو او جبرئیل او میکایل سره دښمنی کوی ( په حقیقت کی کافران او د الله تعالی دښمنان دی) او بیشکه چې الله تعالی هم د کافرانو دښمن دی.

وَلَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ۖ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا
الْفَاسِقُونَ ﴿٩٩﴾

**بیله شکه مونږ تاته روښانه او څرګند دلایل او آیتونه نازل کړی چې له فاسقانو او بدکارانو څخه غیر ترې هیڅوک انکار نه کوی.**

أَوَكُلَّمَا عَٰهَدُواْ عَهۡدٗا نَّبَذَهُۥ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۚ بَلۡ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ١٠٠

**( عهد ماتول د یهودو پخوانی عادت دی) دوی که له الله تعالی او پیغمبرانو سره تعهد او تړون وکړی (او که له بل چا سره، خو بیا) یوه نه یوه ډله پکی په خپل عهد پښې ږدی او لا زیات شمیر یی د ایمان نه هم ورپسې تیرېږی (او د کفر لاره نیسی).**

وَلَمَّا جَآءَهُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٞ لِّمَا مَعَهُمۡ نَبَذَ فَرِيقٞ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمۡ كَأَنَّهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ١٠١

**او کله چه د الله تعالی رسول( محمد صل الله علیه وسلم) د دوی د کتاب( تورات )د تصدیق کوونکی په حیث دوی ته راغی نو د اهل کتابو( یهودو) یوې ډلې د الله تعالی کتاب( تورات په داسې بې ادبۍ او ګستاخۍ) شاته وغورزاوه چې ګواکې( د هغه په ارزښت او تقدس) هیڅ نه پوهیږی.**

وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ
سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ
ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ۚ وَمَا
يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ
فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا
هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا
يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى
ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَـٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ
كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ ١٠٢

او( یهودیان) د هغه څه پیروی کوی چې ( جنی او انسی) شیطانانو د سلیمان د پادشاهۍ په عصر کې لوستل ( او خلکو ته یی ویل چې د سلیمان لوی حکومت او قدرت په جادو ولاړ دی او دی یو جادوګر پادشاه دی) حال داچې سلیمان کافر نه و( او نه یی سحر کاوه) بلکه همدې شیطانانو کفر کاوه چې خلکو ته یی جادو ورزده کاوه او (همدا شیطانان وو چې) د دوو پرښتو هاروت او ماروت نه یی چې د بابل په ښار کی نازلې شوې وې پیروی کوله، په داسې حال کې چې دغو دوو پرښتو چاته د سحر تعلیم نه ورکاوه بلکه( د سحر د بطلان او حراموالی) لپاره یی خلکو ته ویل چې مونږ ازمیښت او امتحان یو( د الله تعالی له خوا او غواړو تاسو ته د ساحرانو سره د مبارزې درس درکړو نو په هغو حرامو شیانو چې په دغه تعلیم کی ترې کار اخستل کیږی ،مه کافران کیږئ) خو یهودیانو له ملایکو نه د سحر هغه مطالب زده کول چې د ښځې- خاوند ترمنځ به یی اختلاف پیدا کاوه او( په دې باوری نه ول چې)هیڅوک د الله تعالی له اجازې نه غیر چاته زیان نشی اړولی او دغه زده کړې ټوټکی دوی ته ضرر رسوی او هیڅ ګټه ورته نه لری (بلکه لوی ضرر یې لا دادی چې) عاملین به یی د آخرت له نعمتونو نه هم کاملا بی برخی وی، څومره بده متاع او توښه ده، چې دوی ترې خپل ځانونه( ایمانونه او د آخرت نعمتونه او نیکمرغۍ ) قربان کړی دی.

وَلَوْ أَنَّهُمْ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَمَثُوبَةٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّوْ كَانُواْ
يَعْلَمُونَ ﴿١٠٣﴾

**که هغوی ( په صداقت سره) ایمان راوړی وی ( او له سحر او جادو نه یی لاس اخستی وی) نو د الله تعالی اجر به ورته له هر څه نه غوره او بهتر وی خو کاش په دې( حقیقت) پوهیدی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقُولُواْ رَٰعِنَا وَقُولُواْ ٱنظُرْنَا
وَٱسْمَعُواْ ۗ وَلِلْكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾

**ای مؤمنانو( پیغمبر ته په خطاب کی، د یهودو په شان په بې ادبۍ) غږ مه کوئ چې: راعنا. بلکه( په پوره ادب او احترام ترې هیله وکړئ او) ورته ووایی: انظرنا( مونږ ته په مهربانۍ پاملرنه وکړه). او د حق خبره ( له لومړی سره په غور او توجه سره) واورئ( تر څو د پرله پسې پوښتنو ضرورت پیدا نشی) او پوه شئ چې) کافرانو او سرغړوونکو ته به دردوونکی عذاب ورکړی شی.**

مَّا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ وَلَا ٱلْمُشْرِكِينَ أَن
يُنَزَّلَ عَلَيْكُم مِّنْ خَيْرٍ مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَخْتَصُّ
بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

**د اهل کتابو هغه کسان چې کافران شوی( که یهود دی، که د مکې مشرکین) یو هم نه غواړی چې ستاسو د رب له لوری کوم خیر او برکت (مبارک قرآن) په تاسو نازل شی( د یهودو ارزو دا وه چې آخرزمان پیغمبر باید له بنی اسرائیلو وی، او د مکې مشرکینو غوښتل چې پیغمبر دې د دوی له ټبر نه مبعوث شی) خو الله تعالی چې هر څوک غوره کړی په خپل رحمت یی نازوی او الله تعالی د لوی فضل او مهربانی څښتن ذات دی.**

۞ مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ ۗ أَلَمْ
تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾

**کوم آیتونه ( چې د حکم یا احکامو محتوا لری د مصلحت یا د زمانې د اړتیاو له مخې) منسوخوو یایی له**

حافظو وباسو،د هغه په شان بل یا له هغه نه بهتر نازلوو، آیا نه پوهیږې چې الله تعالی په ټولو چارو برلاسی دی.

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾

آیا نه پوهیږې چې د آسمانونو او ځمکې واکمنی او پادشاهی له الله تعالی سره ده( او په خپلو بندګانو هم ډیر مهربان او رحیم دی او د هغوی په منافعو او مصالحو هم ډیر ښه پوهیږی) او تاسو له هغه نه غیر، بل دوست او مرستندوی نه لرئ( چې له مصیبتونو مو وساتی او له عذابه نجات درکړی).

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

بلکه تاسو غواړئ چې له پیغمبر نه مو ( داسې نامعقولې او بې ګټې ) پوښتنې وکړی لکه وړاندې، چې له موسی نه هم شوې وې او چا چې د ایمان په ځای کفر غوره کړ( او د یهودیانو په شان یې نامعقولې او د سرکشی پوښتنې وکړې) نو بیشکه چې حقیقی مستقیمه لاره یې ورکه کړې( او د الله تعالی له مستقیمې لارې منحرف شوی دی).

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُم مِّنۢ بَعْدِ إِيمَٰنِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْحَقُّ ۖ فَٱعْفُوا۟ وَٱصْفَحُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٩﴾

زیات شمیر اهل کتاب که څه هم حق( رسول، قرآن او اسلام) پیژنی خو د هغې کینی له مخی چې اور یی د دوی په زړونو کی لمبې وهی غواړی تاسو د ایمان  له نعمت نه محروم او بیرته مو کفر ته وروګرځوی خو تاسو (د اوس وخت له پاره) د هغوی په مقابل کی له عفوې او سرې سینې نه کار واخلې ترڅو الله تعالی ( له هغوی سره د جګړې او یا ورڅخه د جزیی اخستلو) فرمان صادر کړی بیشکه چې الله تعالی په هر کار برلاسی دی.

وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ
تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ١١٠

**( په خپلو دینی شعایرو باندې ټینګ ودریږئ) د لمانځه نظام قایم کړئ زکاتونه ورکوئ اوهره ښیګڼه چې د ځان له پاره وړاندې واستوئ له الله پاک سره به یی ومومی( او اجر به یی درکړی شی) بیشکه چې الله تعالی ستاسو د کړنو لیدونکی دی.**

وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ
أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ١١١

**او( اهل کتاب) وایی له یهودی او عیسوی نه غیر بل هیڅوک جنت ته نشی داخلیدی. دا د دوی (درواغجنی او خیالی) ارزوګانی دی( جنت د کومې خاصې طایفې او نژاد جایداد نه دی) ورته ووایه که رښتونی یاست نو دلیل مو راوړاندې کړئ.**

بَلَىٰۚ مَنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ فَلَهُۥٓ أَجۡرُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ
وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ١١٢

**هو، هغه کسان چې په اخلاص سره یی ځانونه الله ته سپارلی( او د الله تعالی احکام یې منلی او تطبیق کړی) او نیک کارونه هم کوی ، د الله تعالی له حضوره ورته مناسب اجر او ثواب لیکل کیږی ، نه به وربانديې ویره وی او نه به له کوم غم او پریشانئ سره مخ شی.**

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَۗ كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ مِثۡلَ قَوۡلِهِمۡۚ فَٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ١١٣

( ځومره چې يهوديان او مسيحيان له اسلام سره دښمنی کوی، پخپل منځ کی هم سره غوښه او چاړه دی) يهوديان وايی مسيحيان په حقه نه دی او مسيحيان وايی يهوديان د ګمراهی په کندو سر دی، په داسې حال کی چې دغه دواړه ډلې آسمانی کتاب لولی ( او د خپل خپل زعم او فکر سره سم ترې د خپلی عقيدی د حقانيت له پاره دلايل بيانوی) بی علمه (مشرکان او بت پرستان چې د تورات له احکامو نه خبر نه دی د اسلامی قوانينو په باب )هم دغه ډول خبرې کوی. الله تعالی به د قيامت په ورځ د دوی ټولو تر منځ فيصله وکړی.

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ أَن يُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمۡ أَن يَدۡخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١١٤

له هغه نه بل لوی ظالم څوک دی چې په جوماتونو کی د الله تعالی د ذکر مخه نيسی او د جوماتونو په ورانولو ( او شاړولو) پسې يی راخستی وی( لکه د مکې مشرکينو چې مسلمانان يې په حديبيه کې ايسار او د بيت الله له زيارت نه محروم کړل او يا د روم عيسوی امپراتور چې د يهودو سره په جګړه کې يې تورات وسوزاوه او بيت المقدس يې تخريب او ونړاوه). دوی ته پکار ده چې د( الله تعالی د عدالت او انتقام) له ويرې سره جوماتونو ته ننوزی. د دغه ظلم مرتکبين به په دې دنيا خوار او ذليل او په آخرت کی به ورته لوی عذاب ورکړی شی.

وَلِلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ فَأَيۡنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجۡهُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ وَٰسِعٌ
عَلِيمٞ ١١٥

**د ختيځ او لويديځ مالکيت يوازې د الله تعالی دی نو( که په سفر کې درته قبله معلومه نه وی) هره خوا چې مخ واړوی د الله تعالی د اطاعت لوری دی او بيشکه چې الله تعالی د (پراخ نظر او رحمت) څښتن او( د خپلو بندګانو په نيتونو، اعمالو او مصالحو)ښه پوه ذات دی.**

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۖ بَل لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ١١٦

**او(يهود،مسيحيان او مشرکان دريواړه) وايی چې الله خو د ځان لپاره زوی غوره کړی دی. پاک او مبرا دی (د الله تعالی ذات ) له دغو خرافاتی او باطلو اوصافو څخه) بلکه د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات د هغه مخلوق او مملوک دی ( نه زامن) او ټول د هغه پاک ذات په وړاندې مطيع او غاړه ايښودونکی دی.**

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن
فَيَكُونُ ١١٧

**د آسمانونو او ځمکی مخترع دی او همدا چې د کوم شی د پيدا کيدو اراده وکړی همدومره ورته وايی « وشه» او هغه سمدلاسه وشی.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ لَوۡلَا يُكَلِّمُنَا ٱللَّهُ أَوۡ تَأۡتِينَآ ءَايَةٞۗ
كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّثۡلَ قَوۡلِهِمۡۘ تَشَٰبَهَتۡ
قُلُوبُهُمۡۗ قَدۡ بَيَّنَّا ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ١١٨

**او هغه کسان چې نه پوهيږی( يا قصداً ځان په تجاهل وهی) وايی چې الله تعالی ولی له مونږ سره مخامخ خبرې نه کوی او نه راته داسې کومه نښه او معجزه را استوی( چې ستا د رسالت تصديق وکړی) ، د هغوی اسلافو هم دغه ډول خبری کولې، د دوی زړونه ( په تعصب ،لجاجت ، دښمنی او ناپوهی کی له خپلو اسلافو سره په يوه تار پييلی دی). بې له شکه مونږ د باور لرونکو لپاره ( د توحيد اونبوت) ډيرې روښانه نښې او دلايل بيان کړی دی.**

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗاۖ وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ
ٱلۡجَحِيمِ ١١٩

( ای پیغمبره!) ته مو په حقه ( مؤمنانو ته د مغفرت او جنت ) د زیری ورکوونکی او( کافرانو او سر غړوونکو ته د سخت عذاب) د تهدیدوونکی په حیث استولی یی( خو د حق د پیغام رسولو نه وروسته د خلکو د ایمان راوړلو ذمه وار نه یی) او د دوزخیانو په باب به درنه پوښتنه هم نه کیږی.

وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡۗ قُلۡ إِنَّ هُدَى
ٱللَّهِ هُوَ ٱلۡهُدَىٰۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَ ٱلَّذِي جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ
مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠

یهود او مسیحیان به له تا تر هغه خوښ نشی ترڅو یی د دین پیروی و کړې( ځکه دوی له اسلام سره په دښمنۍ کې پخپل لجاجت او عناد ټینګ ولاړدی) ورته ووایه واقعی هدایت همدا د الله تعالی هدایت( اسلام) دی . او که ته له هغه علم نه وروسته چې درکړی شوی( په قرآنی احکامو) له پوهیدو وروسته د هغوی د خواهشاتو پیروی وکړې نو (له الهی مؤاخذې نه د خپل نجات لپاره به) هیڅ مرستندوی او دوست پیدا نه کړې.

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡمِنُونَ بِهِۦۗ وَمَن
يَكۡفُرۡ بِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ١٢١

( عبدالله ابن سلام او نور منصف او حق پیژندونکی یهودیان او عیسویان) چې مونږ ورته آسمانی کتاب ورکړی او( په پوره تدبر،پوهه او بې له تحریفاتو یې) لولی، هغه کسان دی چې (په پاک قرآن او پیغمبر)پوره ایمان لری او زیان او تاوان د هغه چا په برخه دی چې( له مبارک قرآن او پیغمبر څخه یې) د کفر او انکار لاره نیولې ده.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى
ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٢٢

**ای بنی اسراییلو زما هغه لورینه رایاده کړئ چې تاسو مې ( د عصر) په ټولو ولسونو غوره کړې واست.**

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا
تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ١٢٣

**او د هغې ورځې( له سختیو او کړاوونو) ووېرېږئ چې هیڅوک به له هیچا نه عذاب دفع کولی نشی،نه به څوک د خپلو ګناهونو په مقابل کې تاوان او فدیه ورکولی شی، نه به د چا شفاعت او سپارښتنه ګټه کوی او نه به ( د دوزخ له اورنه د نجات له پاره) له مجرم سره مرسته کیږی.**

۞ وَإِذِ ٱبۡتَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٖ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامٗاۖ
قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِيۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهۡدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ١٢٤

**او کله چې ابراهیم د هغه د رب له خوا ( په سختو چارو) وازمایل شو او هغه د دغو چارو د سرته رسولو له ازمیښت نه، سر لوړی او بریالی راووت نو پروردګار یی ( د هغه د لیاقت او کفایت له مخې) وفرمایل : زه تا د خلکو د رهبر او امام په توګه ټاکم. ابراهیم وویل آیا زما له اولاد سره هم دغه وعده ده ؟الله تعالی وفرمایل ( البته) له ظالمانو سره( د امامت او رهبری) وعده نه کوم.**

وَإِذۡ جَعَلۡنَا ٱلۡبَيۡتَ مَثَابَةٗ لِّلنَّاسِ وَأَمۡنٗا وَٱتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبۡرَٰهِـۧمَ مُصَلّٗىۖ
وَعَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡعَٰكِفِينَ
وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ١٢٥

**او کله چې موږ د کعبې خونه د خلکو د بیا بیا راغونډیدو او ثواب ګټلو او امن وامان د مرکز په حیث غوره کړه (او فرمان مو صادر کړ چې)د ابراهیم د ودریدو ځای( مقام ابراهیم په ځانګړی توګه) د لمانځه لپاره وټاکئ او ابراهیم او اسماعیل ته مو امر وکړ چې زما کور د طواف کوونکو، اعتکاف کوونکو، رکوع کوونکو او سجده کوونکو( لمونځ کوونکو) لپاره پاک وساتئ.**

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ
ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ
عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

**او کله چې ابراهیم وویل: ای زما ربه دغه ځای ( مکه ) د امن ښار وګرځوه او هغو اوسیدونکو ته یی چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لری ډول ډول میوې ورپه برخه کړه ،الله تعالی وفرمایل( دعا دې د مؤمنانو په هکله ومنل شوه خو) څوک چې د کفر لاره غوره کړی په دنیا کی به یو څه برخه ورکړم او بیا به یی د دوزخ اور ته راکاږم چې تر ټولو بد استوګنځی دی.**

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَٰعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّآ ۖ إِنَّكَ
أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

**او کله چې ابراهیم او اسماعیل د کعبې د خونې بنسټونه اوچتول (او حق تعالی ته یی دعا کوله:) ای زمونږ ربه ! زمونږ دا( پاک او مقدس خدمت )ومنه، ته( زمونږ د دعا)ښه اوریدونکی او( زمونږ په پاک نیت) ښه پوه ذات یی.**

رَبَّنَا وَٱجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَآ أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا
مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾

**ای زمونږ ربه!مونږ دواړه په اسلام او ایمان ټینګ وساته او زمونږ په اولاد کې ستا یوه حکم منونکې ډله راپورته کړه او مونږ ته زمونږ د ( حج او قربانۍ د مناسکو)لاره او رسم رازده کړه او مونږ ته بخښنه وکړه ځکه چې ته غوره بخښونکی او مهربان ذات یی.**

رَبَّنَا وَٱبْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ
ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٢٩﴾

ای زمونږ ربه! په دوی کی د دوی له نسل نه داسي پیغمبر راپورته کړه چې ستا آیتونه ورته ولولی او کتاب او حکمت ( قرآن او سنت او د شریعت اسرار او مقاصد) ورزده کړی او( له شرک او اخلاقی مفاسدو نه یی ) پاک کړی،بیشکه چې ته د لوی طاقت او حکمت څښتن یی.

وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ

فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٣٠﴾

او څوک دی چې د ابراهیم له قانون او دین نه به سرغړونه او کرکه وکړی( هیڅوک دغه جرأت نشی کولی) بی له هغه چا چې ځان قصداً او په روغ لاس په ناپوهی وهی ،بیشکه چې مونږ ابراهیم، په دنیا کی د( امامت او رسالت د ستر اعزاز لپاره) غوره کړی او په آخرت کې به هم(د الله تعالی دربار ته مقرب اوغوره) نیک شخصیت وی.

إِذۡ قَالَ لَهُۥ رَبُّهُۥٓ أَسۡلِمۡۖ قَالَ أَسۡلَمۡتُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٣١﴾

کله چې یې ورته رب وویل: د الله په وحدانیت قرار وکړه او هغه ته په اخلاص سره تسلیم شه،ځواب یی ورکړ چې ما د ټولو کائناتو د رب حکم ته غاړه ایښی او په اخلاص ورته تسلیم یم.

وَوَصَّىٰ بِهَآ إِبۡرَٰهِـۧمُ بَنِيهِ وَيَعۡقُوبُ يَٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ

فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٣٢﴾

د همدې دین او قانون د منلو لپاره، ابراهیم او یعقوب خپل اولادونه هم دعوت کړی وو او ورته یی ویل: ای ځامنو! الله پاک ستاسو لپاره (همدا د اسلام توحیدی) دین او قانون غوره کړی او باید په اخلاص سره یی ومنئ او مرګ مو هم باید د مسلمانانو په حیث وی.

أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ حَضَرَ يَعۡقُوبَ ٱلۡمَوۡتُ إِذۡ قَالَ لِبَنِيهِ مَا

تَعۡبُدُونَ مِنۢ بَعۡدِيۖ قَالُواْ نَعۡبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ ءَابَآئِكَ إِبۡرَٰهِـۧمَ

وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗا وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿١٣٣﴾

( ای یهودو او مسیحیانو!تاسو چې د یعقوب په پیروئ ادعا او ټینګار کوئ) آیا هغه وخت حاضر واست چې یعقوب د خپل ژوند په وروستیو شیبو کې له خپلو ځامنو نه پوښتنه کوله چې زما له وفات نه وروسته به د چا

**عبادت کوی، هغوی ځواب ورکړ: مونږ به د هغه الله عبادت کوو چې ستا رب دی او ستا د پلرونو ابراهیم، اسماعیل او اسحاق رب دی او مونږ هم وربانديې ایمان راوړی او ورته تسلیم یو.**

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

**دا یو ټولی و چې په خپله لار تللی ، د خپلو خپلو اعمالو او کړنو ثمره به وینی او ستاسو نه د هغوی د کړنو په باب هیڅ پوښتنه نه کیږی.**

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

**( ای مؤمنانو!یهود او مسیحیان ستاسو د بې لارې کیدو په هڅه کی دی، یهود) وایی یهودیت ومنئ( او مسیحیان وایی) مسیحیت ته راواوړی ترڅو مو هدایت په برخه شی.( ای پیغمبره!) ورته ووایه مونږ د ابراهیم، پاک او حنیف مسلک منلی ( چې یوازې د واحد خدای عبادت یی کاوه) او مشرک نه و.**

قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

**( ای مؤمنانو ورته) ووایی مونږ په الله ایمان راوړی او په هغو لارښوونو هم چې مونږ ته نازل شوی او په هغو چې په ابراهیم ، اسماعیل، اسحاق او یعقوب او د هغوی په اولادی نازل شوی او په هغو مو هم ایمان راوړی چې په موسی او عیسی او نورو پیغمبرانو د الله تعالی له لوری نازل شوی،مونږ د هغوی ترمنځ هیڅ توپیر ته قایل نه یو او مونږ د الله تعالی حکم ته غاړه ایښودونکی یو.**

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾

که هغوی هم ستاسو په شان( په قرآن او پیغمبر) ایمان راوړی نو بیشکه چې د الهی هدایت لاره یی نیولې او که مخ واړوی او( د اسلام حقانیت ونه منی او ستاسو په وړاندې) د دښمنۍ دریځ غوره کړی بیا نو الله تعالی ستاسو لپاره پوره دی او زر ده چې تاسو به د دوی له دسیسو او چلوټو نه خلاص کړی،الله تعالی پوره اوریدونکی او لیدونکی پوه ذات دی ( او د هغوی خبرې او کړنې څاری).

صِبۡغَةَ ٱللَّهِۖ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ صِبۡغَةٗۖ وَنَحۡنُ لَهُۥ عَٰبِدُونَ ﴿١٣٨﴾

( مسیحیانو ته ووایې چې په زیړ رنګ کې د تعمید غسل ستاسو د طهارت او ایمان نښه نه ده، بلکه د ابدی نیکمرغی لپاره) د الله رنګ ( اسلام) خپل کړی، د الله له رنګ نه بل کوم رنګ غوره دی؟ ( بیشکه چې دا تر ټولو غوره دی) او مونږ یوازې د الله تعالی مخلصانه عبادت کوو.

قُلۡ أَتُحَآجُّونَنَا فِي ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمۡ وَلَنَآ أَعۡمَٰلُنَا وَلَكُمۡ أَعۡمَٰلُكُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُخۡلِصُونَ ﴿١٣٩﴾

ورته ووایه آیا د الله د دین په باب زما سره بحث او مجادله کوی ( او فکر کوی چې هر پیغمبر باید ستاسو له ډلی وټاکل شی ) په داسې حال کې چې الله تعالی زمونږ او ستاسو د ټولو رب دی ( او هر چاته چې اراده وکړی په خپل فضل او رحمت یی نازوی) تاسو د خپلو اعمالو مسؤل یاست او مونږ د خپلو. او مونږ په اخلاص سره د الله تعالی عبادت کوو.

أَمۡ تَقُولُونَ إِنَّ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطَ كَانُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ قُلۡ ءَأَنتُمۡ أَعۡلَمُ أَمِ ٱللَّهُۗ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن كَتَمَ شَهَٰدَةً عِندَهُۥ مِنَ ٱللَّهِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿١٤٠﴾

او دا چې وایی: ابراهیم، اسماعیل، اسحاق او یعقوب او د ده اولاد یهودیان او مسیحیان وو( یوه بې بنسټه ادعا ده ځکه تورات او انجیل له دوی نه وروسته نازل شوی او یهودیت او مسیحیت هم وروسته منځته راغلی) ورته ووایه تاسو ښه پوهیږی که الله؟ او له هغه نه بل ظالم څوک دی چې الهی شهادت او ګواهی(په آسمانی کتابونو کې موجود حقایق) پټوې ( او پوه شی چې ) الله تعالی ستاسو له کړنو بې خبره نه دی.

تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ
عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٤١

**( په هر حال) دا یو امت و چې په خپله لاره تللی ،هغوی به د خپلو اعمالو ثمره ګوری او ستاسو به هم خپل عمل د لارې مل وی او د هغوی د کړنو پوښتنه به در څخه نه کیږی.**

**====================**

۞ سَيَقُولُ ٱلسُّفَهَآءُ مِنَ ٱلنَّاسِ مَا وَلَّىٰهُمۡ عَن قِبۡلَتِهِمُ ٱلَّتِي كَانُواْ عَلَيۡهَاۚ قُل
لِّلَّهِ ٱلۡمَشۡرِقُ وَٱلۡمَغۡرِبُۚ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٤٢

**او ناپوهان به ووایی چې مسلمانانو ولې خپله قبله بدله کړه( او له بیت المقدس نه یی کعبی شریفې ته په لمانځه کی مخ واړاوه) ورته ووایه د ختیځ او لویدیځ او ټولو اطرافو ملکیت د الله تعالی دی او هرچاته چې وغواړی د هدایت( اسلام) په مستقیمه لاره یی برابروی.**

وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا لِّتَكُونُواْ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ
وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيۡكُمۡ شَهِيدٗاۗ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلۡقِبۡلَةَ ٱلَّتِي كُنتَ
عَلَيۡهَآ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيۡهِۚ وَإِن
كَانَتۡ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُۗ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمۡۚ
إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ١٤٣

**او تاسو ته مو له هدایت سره سره د یوه غوره او معتدل امت لوړ مقام درکړی ترڅو( د قیامت په ورځ ) په ټولو بشری پرګنو ګواهی ورکړئ( چې پیغمبرانو یې ورته په صداقت او امانت سره الهی پیغام رسولی) او پیغمبر( محمد صل الله علیه وسلم) به په تاسو ګواه واوسی او پخوانی قبله مو درته د دې لپاره غوره کړې وه ترڅو معلومه کړو چې د تبدیلۍ په وخت کی یی څوک د پیغمبر رښتونی پیروی کوی او څوک ورسره (په متعصبانه توګه)مخالفت کوی؟ که څه هم د قبلی تبدیلی سخت حکم دی خو هغو کسانو ته چې الله تعالی ورته هدایت کړی وی ډېر آسانه دی.او باید پوه شئ چې الله پاک ستاسو ایمان( هغه لمونځونه، نه ضایع کوی چه د بیت المقدس په لور مو اداء کړی دی) ځکه الله تعالی په ټولو خلکو مهربان او لورونکی ذات دی.**

قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي ٱلسَّمَآءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَىٰهَا ۚ
فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا۟
وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ ۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ لَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن
رَّبِّهِمْ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَـٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٤٤﴾

**( ای پیغمبره!) مونږ لیدي چې مخ دې د آسمان په لور نیولی و( او د قبلې د بدلون ارزو دې لرله) نو اوس ستا مخ هغې قبلې ته اړوو چې ستا خوښه ده ، مخ دې( په لمانځه کې) د مسجد حرام په لور واړوه او ( ای مسلمانانو! هر چیرې چې یاست، د لمانځه نیت مو د مسجد حرام په لور وتړئ.او اهل کتاب په دې ښه پوهیږی چې ( له بیت المقدس نه مسجد حرام ته د قبلې بدلون د هغوی د رب له لوری په حقه دی ( او په تورات او انجیل کی راغلی چې آخرزمان پیغمبر به دوو قبلو ته لمونځ کوی) او الله پاک له هغو کړنو هم ناخبره نه دی (چې دوی یی د پیغمبر او مؤمنانو په ضد سرته رسوی.)**

وَلَئِنْ أَتَيْتَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ بِكُلِّ ءَايَةٍ مَّا تَبِعُوا۟ قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ
أَنتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا بَعْضُهُم بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ۚ وَلَئِنِ
ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ ۙ إِنَّكَ إِذًا
لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٤٥﴾

**او که اهل کتابو ته هره نښه او دلیل وړاندی کړې ستا قبله نه منی او ته هم چې ( د الهی وحی تابع یی) د هغوی قبله نه منې او هغوی( یهود او نصارا ) هم د یو بل قبله نه منی او که ته له هغه علم نه وروسته چې درته راغلی( او د کعبې حقانیت درته د الهی وحی له مخې ثابت دی) بیا هم د دوی ارزو ته تسلیم شې نو بیشکه چې د ظالمانو په ډله کې به وشمیرل شې.**

ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا
مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٤٦

**اهل کتاب ( د تورات او انجيل په استناد) د اسلام پيغمبر داسې پيژنی لکه( په ډيرو هلکانو کې چې) خپل زامن پيژنی خو بياهم د دوی يوه ډله په رڼو سترګو او قصداً حق تر پښو لاندې کوی.**

ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ١٤٧

**حق هماغه دی چې تاته ستا د رب له خوا راغلی ( نه هغه چې يهود اومسيحيان يی ادعا کوی) نو هيڅکله شک او ترديد ته په زړه کې ځای مه ورکوه.**

وَلِكُلّٖ وِجۡهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَاۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ أَيۡنَ مَا تَكُونُواْ يَأۡتِ بِكُمُ
ٱللَّهُ جَمِيعًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٤٨

**د هرې ډلی لپاره يوه قبله ( يا د عبادت منهج او طريقه) ټاکل شوې چې د عبادت په وخت کې هغې ته مخ اړوی نو( د قبلې په باب بحث او جنجال مه کوئ) او د نيکئ او خير په کارونو کې له يوبل سره سيالی وکړئ. تاسو چې هر چيرې ياست ، الله تعالی به مو( د محشر په ميدان کې) سره راټول کړی بيشکه چې الله تعالی په هرکار قادر او برلاسی دی.**

وَمِنۡ حَيۡثُ خَرَجۡتَ فَوَلِّ وَجۡهَكَ شَطۡرَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِۖ وَإِنَّهُۥ
لَلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ١٤٩

**او له هر ځايه چې راووځې ( او هر چيرې چې ورسيږې، په سفر او حضر کی د لمانځه په وخت) د مسجد حرام په لور مخ واړوه( او د لمانځه نيت وتړه) او بيشکه چې ( دا حکم ) ستا د رب له لوری حق( ثابت او د مصلحت سره برابر) دی او( ای مؤمنانو باوری اوسئ چې) الله تعالی ستاسو له کړنو بې خبره نه دی( او تاسوته به د پيغمبر د اطاعت او نيکو اعمالو او اخلاص پوره اجر او بدله درکړی).**

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا
كُنتُمْ فَوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُۥ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ إِلَّا
ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِى وَلِأُتِمَّ نِعْمَتِى عَلَيْكُمْ
وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٠﴾

**او له هر ځایه چې راووځې ( د ځمکې په هر ګوټ کی د لمانځه په وخت) د مسجد حرام په لور مخ کړه.او ( ای مؤمنانو) هر ځای چې یاست( د لمانځه په وخت) کعبې شریفې ته مخ کړئ ( او نیت وتړئ) تر څو له ظالمانو نه غیر هیڅوک درته د اعتراض ګوته ونه نیسی( مشرکان ونه وایی چې ولی د ابراهیمی مسلک منونکی پیغمبر د ابراهیم قبلې ته لمونځ نه کوی او اهل کتاب ونه وایی چې ولی دا پیغمبر د تورات د وړاندوینې په خلاف د کعبې په ځای ،زموږ قبلې ته لمونځ کوی نو ای مؤمنانو!) له دغو ظالمانو مه ویرېږئ او له ما څخه وویرېږئ او قبله مې ځکه درته بدله کړه چې تاسو زما د هر اړخیز انعام او اکرام مستحق او د هدایت په لاره برابر شئ.**

كَمَآ أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِّنكُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِنَا
وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُم مَّا لَمْ
تَكُونُوا۟ تَعْلَمُونَ ﴿١٥١﴾

**( د نعمت او هدایت اتمام او تکمیل همداسې دی) لکه څنګه چې مې ستاسو له خپل قوم نه تاسو ته یو رسول درواستاوه چې زما آیتونه او احکام درته اوروی او ( په عقیدوی او اخلاقی ډول ) مو پاکوی او کتاب او حکمت ( قرآن او د شریعت اسرار)درزده کوی او په هغه څه مو پوهوی چې تراوسه وربانديې نه پوهیدئ.**

فَٱذْكُرُونِىٓ أَذْكُرْكُمْ وَٱشْكُرُوا۟ لِى وَلَا تَكْفُرُونِ ﴿١٥٢﴾

**نو( تاسو، زما د اطاعت او عبادت، له ګناهونو نه د ځان ساتنې،د زړه ،ژبې او قلم په وسیله زما د ذکر او زما په قدرتونو کې په تفکر کولو سره) ما یاد کړئ ،زه به هم ( د ثواب او اجر او دنیوی او اخروی نیکمرغۍ په درکولو سره) تاسو یاد کړم.زما شکر په ځای کړئ او د نعمتونو مې کفران مه کوئ( او بې اهمیته یې مه ګڼئ).**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ
ٱلصَّـٰبِرِينَ ١٥٣

**اى د ايمان خاوندانو( د ژوندانه د هر ډول سختو پېښو اومشكلاتو په وخت كى) د صبر او لمانځه په وسيله مرسته وغواړئ او باور ساتئ چې الله تعالى د زغم لرونكو كسانو ملګرى دى.**

وَلَا تَقُولُواْ لِمَن يُقۡتَلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢۚ بَلۡ أَحۡيَآءٞ وَلَٰكِن لَّا
تَشۡعُرُونَ ١٥٤

**او هغو كسانو ته چې د الله تعالى په لاركې وژل كيږى،مړه مه وايى بلكه هغوى( په عالم برزخ كې ) ژوندى دى خو تاسو( د دغه ژوند په كيفيت او څرنګوالى ) نه پوهيږئ.**

وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ
وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّـٰبِرِينَ ١٥٥

**او مونږ به تاسو په يو نه يو ډول( په ځينو پېښو لكه د دښمن نه) ويره، لوږه( تنده) ځانى او مالى زيانونو او د ميوو د حاصلاتو په كمښت وازمايو او صبر كوونكو ته( د جنت)زيرى وركړه.**

ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦

**هغوى چې د مصيبتونو د ګاللو په وخت كې وايى: مونږ د الله تعالى ملكيت يو او د هغه پاک ذات لورى ته ورګرځيدونكى يو.**

أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُهۡتَدُونَ ١٥٧

**دا هغه (د صبر او زغم لرونكى) كسان دى چې د الله تعالى مهربانى، رحمت او مغفرت ورسره ملګرى دى او( د هدايت، حقيقت او خير او بركت په لويه) لاره برابر روان دى.**

۞ إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِ ۖ فَمَنْ حَجَّ ٱلْبَيْتَ أَوِ ٱعْتَمَرَ
فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا ۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ
عَلِيمٌ ﴿١٥٨﴾

بیشکه چې د صفا او مروی( دوه غرونه او د هغوی ترمنځ اوه ځله سعی) د الله تعالی( د دین او عبادت) نښې دی نو څوک چې د بیت الله د حج او عمرې تکل وکړی هیڅ ګناه ورباندې نشته که د دواړو غرونو ترمنځ( څو څو ځله) منډې رامنډې وکړی او څوک چې پخپله خوښه نیک کارونه کوی ( او د فرایضو نه علاوه نفلی عبادت هم کوی ،د لا زیات اجر مستحق دی ځکه چې) الله تعالی شکر منونکی او ( د خپلو بندګانو په اعمالو او ارادو) پوه ذات دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلْنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَٱلْهُدَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا
بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِى ٱلْكِتَٰبِ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ
ٱللَّٰعِنُونَ ﴿١٥٩﴾

بیشکه هغه کسان چې زمونږ نازل کړی روښانه دلایل او لارښوونې ، سره له دې چې مونږ په کتاب( تورات او انجیل) کې په پوره صراحت سره بیان کړی پټوی، الله تعالی پرې لعنت وایی او ټول لعنت ویونکی پرې هم لعنت وایی .

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ وَأَصْلَحُوا۟ وَبَيَّنُوا۟ فَأُو۟لَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا
ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾

خو هغه کسان به له لعنت نه مستثنی وی چې (د حق له پټولو نه) توبه وباسی،خپل ناوړه اعمال او مفاسد اصلاح کړی ( او د پیغمبر اوصاف او مشخصات او نور حقایق چې پخوا یې پټول په صراحت سره) بیان کړی، زه به د دغو کسانو توبه ومنم ځکه زه توبه منونکی او مهربان یم.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ كُفَّارٌ أُو۟لَٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ ٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ
وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾

**بیشکه هغه کسان چې کافران شوی او د کفر په حال کې له دنیا نه لاړ شی ، د الله ،ملایکو اوټولو انسانانو لعنت به پرې اوری.**

خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ١٦٢

**(دغه لعنت به پرې) تل ترتله وی. نه به د دوزخ عذاب وربانديې کم شی او نه به ( د ښښنی غوښتلو لپاره) وخت ورکړی شی.**

وَإِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ١٦٣

**او( خبر اوسی چې) ستاسو حقیقی رب یوازې او یوازې د الله تعالی واحد او لاشریک ذات دی او له دغه مهربان او ښښونکی ذات نه غیر بل هیڅ رب نشته.**

إِنَّ فِي خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلۡفُلۡكِ ٱلَّتِي تَجۡرِي فِي ٱلۡبَحۡرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٖ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖ وَتَصۡرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلۡمُسَخَّرِ بَيۡنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ١٦٤

**(حقیقت دادی چې) د آسمانونو او ځمکې په پیدایښت، د شپې او ورځې په جلا والی ( لندوالی او اوږدوالی، تیاره کیدو او روښانه کیدو، سړښت او تودښت ) او هغو کښتیو کې چې په بحر کې د خلکو د اسانتیاو لپاره تګ راتګ کوی او هغو اوبو کې چې الله تعالی یی له آسمانه راوروی او ځمکه پرې له وچوالی او مرګ نه وروسته تروتازه او ژوندی کوی او ډول ډول ساکښ یی پکې خواره کړی ( او د ژوند زمینه یی ورته برابره کړې) او د بادونو په چلښت ( او مسیر بدلولو) او د آسمان او ځمکې ترمنځ د امر منونکو وریځو په زوړند ساتلو کې د عقل او پوهې د خاوندانو لپاره ( د الله تعالی د وحدانیت، قدرت او عظمت) پوره دلایل او شواهد پراته دی.**

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ ٱللَّهِ ۖ
وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ۗ وَلَوْ يَرَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِذْ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ
أَنَّ ٱلْقُوَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا وَأَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعَذَابِ ١٦٥

**(خو د دغو ټولوڅرګندواو انکار نه منونکو دلايلو او شواهدو سره سره ) داسې کسان هم شته چې له الله تعالی نه غير يی نور باطل خدايان د ځان لپاره غوره کړی او داسې مينه ورسره لری( او په دومره توده مينه او ولولو سره يی عبادت او پرستش کوی) ته به وا د الله عبادت کوی خو مؤمنان يوازې له الله تعالی سره د زړه له اخلاصه مينه لری ( او مخلصانه عبادت يی کوی) . که دغو ظالمانو نن د اخروی عذاب منظر ليدلی شوی نو ( هيڅکله به يی د بتانو او باطلو خدايانو عبادت نه وی کړی بلکه پوه شوی به وو، چې ) حقيقی عظمت او واکمنی له الله تعالی سره ده او بيشکه چې سخت عذاب ورکوونکی هم د الله تعالی ذات دی.**

إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ
بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ ١٦٦

**کله چې د ( کفر او شرک) رهبران، عذاب پخپلو سترګو ووينی ، له خپلو پيروانو او لاسپوڅو به بيزاری اعلان کړی او د دوی ترمنځ به( د پيژندګلوۍ او عقيدت) ټولې اړيکې وشليږی.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا۟ مِنَّا ۗ
كَذَٰلِكَ يُرِيهِمُ ٱللَّهُ أَعْمَٰلَهُمْ حَسَرَٰتٍ عَلَيْهِمْ ۖ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنَ
ٱلنَّارِ ١٦٧

**او پيروان به يی هم( د پښيمانۍ لاس ومروړی) او وبه وايی دريغه چې بيرته خو( دنيا) ته وګرځو او لکه څنګه چې نن دوی له مونږ نه بيزاره شول ،مونږ هم په ډاګه له دوی نه کرکه او بيزاری اعلان کړو. په دې ډول الله تعالی د دوی هغه فاسد اعمال چې اوس د دوی د پښيمانۍ او مايوسۍ سبب شوی دوی ته ورپه ګوته کوی او د اور په داسې ابدی عذاب يی اخته کوی چې وتل ترې نشته.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ كُلُوا۟ مِمَّا فِى ٱلْأَرْضِ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ
ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾

( وروسته له دې چې الله تعالی د خپل توحید او عظمت حقیقت نړیوالو ته بیان کړ ، اوس یی دې حقیقت ته هم پام وراړوی چې یوازې همدغه مقتدر ذات ، ټولو مخلوقاتو ته روزی ورکوی، ورته فر مایی:) ای انسانی پرګنو! د ځمکې هر ډول حلال او پاک خوراکونه او میوی( چې مونږ ورته حلال او مباح ویلی) وخوری او د شیطان په قدم او فرمان پسې مه ځی، ځکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُوا۟ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا
تَعْلَمُونَ ﴿١٦٩﴾

( شیطان ) تاسو بدو اعمالو او فحشاو ته تشویقوی او دې ته مو لمسوی تر څو( له خپل ځان نه جعلی احکام او فتواوې صادرې کړئ او بیا یې) په جاهلانه توګه، الله تعالی ته منسوب کړئ( په داسې حال کې چې الله تعالی ورباندې هیڅ امر نه دی کړی).

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۗ
أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٧٠﴾

او کله چې کفارو ته وویل شی ( د الله تعالی د وحدانیت او پاکو شیانو د خوراک په باب، د الهی احکامو پیروی وکړئ ، وایی نه، بلکه په پټو سترګو) د خپلو پلرونو( او نیکونو) په پل روان یو، په داسې حال کې چې د دوی پلرونه په ( دینی احکامو) بیخی نه پوهیدل او په غلطه روان وو.

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ كَمَثَلِ ٱلَّذِى يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ إِلَّا دُعَآءً
وَنِدَآءً ۚ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْىٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٧١﴾

کافرانو ته د ایمان د دعوت مثال داسې دی (لکه شپونکی چې څاروی خپل لورته رابلی خو هغوی یوازې د شپونکی) چیغی اوری (او په مفهوم او معنی یی نه پوهیږی). کافران هم ړانده دی ( چې حق نه وینی) هم کاڼه دی( چې د حق آواز نه اوری) او هم ګونګیان دی ( چې حق ویلی نشی،بلکه نه پخپله پوهیږی او نه د پوهانو او عالمانو خبره اوری).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لِلَّهِ
إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ١٧٢

**اى مؤمنانو! كه د الله تعالى اطاعت كوونكى ياست نو هغه پاک شيان وخورئ چې ستاسو لپاره مو د روزئ په حيث ټاكلى او د الله تعالى شكر ورسره په ځاى كړئ.**

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ
لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ
رَّحِيمٌ ١٧٣

**بيشكه په تاسو باندې د مردارو شويو( يعنې هغو ځارويو،چرګانو او مارغانو غوښې چې پخپل سر مړه وى او په شرعى طريقه ذبح شوى نه وى)،تويه شوې وينه، د خنزير غوښه او د هغو ځارويو غوښه چې د الله تعالى نه غير د بل چا په نوم ذبح شوى وى حرامه ده خو كه څوک د ولږې له امله مرګ ته نږدې شوى وى او د ناچارئ له امله ترې لږه شان وخورى، او نيت اوهدف يى ( له الهى حكم نه) بغاوت او له حد نه تيرى نه وى نو( ګناه وربانديې نشته) بيشكه چې الله تعالى ښښونكى او رحم كوونكى ذات دى.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَشۡتَرُونَ
بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا
يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ١٧٤

**هغه كسان چې د بې ارزښته (شخصى او دنيوى) ګټو لپاره د الله تعالى نازل كړى احكام تحريف او له خلكو پټوى په حقيقت كې خپله ګېډه له اوره ډكوى . الله تعالى به له دغو (ظالمانو او خاينانو) سره نه خبرې وكړى او نه به يى (له كفره) پاک كړى بلكه د سخت او دردوونكى عذاب مستحق دى.**

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡعَذَابَ
بِٱلۡمَغۡفِرَةِۚ فَمَآ أَصۡبَرَهُمۡ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥

**دا هغه خلک دی چې د الهی هدایت د مستقیمې لاری په ځای یی ګمراهی واخسته او د ببښنې  په ځای یی عذاب ته ترجیح ورکړه . څه لویه حوصله ده چې دوی یې د دوزخ د اور د زغملو له پاره لری.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِي
ٱلۡكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقِۢ بَعِيدٖ ١٧٦

**دا ځکه چې الله تعالی خو خپل کتاب( قرآن یا تورات) په حقه   نازل کړی( او دوی پکې اختلاف او تحریف پیدا کوی) او څوک چې په الهی حق کتاب کې د اختلافاتو( او تحریفاتو) په لټه کې دی( د حق په مقابل کې یې) اوږدې دښمنۍ ته ملا تړلې ده.**

۞ لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ
ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى
ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ
ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ
وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْۖ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ
وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُتَّقُونَ ١٧٧

**نیکی یوازې دا نه ده چې ختیځ او لویدیځ ته مخ کړی ( او د عبادت په نوم ظاهری رسوم په ځای کړئ ) بلکه حقیقی نیکی د هغه چا ده چې الله او د قیامت ورځ ،پرښتې او د الله نازل کړی کتابونه او د هغه پیغمبران د زړه له کومی او په ایمانی او عقیدوی جذبه ومنی او د الله تعالی په مینه کی خپل ګران مال او دارایی په خپلو خپلوانو، یتیمانو،مسکینانو، سوالګرو او د مریانو په آزادئ مصرف کړی، ( په شرایطو او ارکانو سره برابر) لمونځ وکړی ( او د لمانځه نظام هم قایم کړی) ، زکات ورکړی، خپله کړې وعده ترسره کړی او د تنګسئ او پریشانی په وخت او( د حق او باطل) په جګړه کې صبر او استقامت وکړی ،همدا دی رښتونی او همدادی پرهیزګاران.**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِصَاصُ فِى ٱلْقَتْلَى ۖ ٱلْحُرُّ بِٱلْحُرِّ
وَٱلْعَبْدُ بِٱلْعَبْدِ وَٱلْأُنثَىٰ بِٱلْأُنثَىٰ ۚ فَمَنْ عُفِىَ لَهُۥ مِنْ أَخِيهِ شَىْءٌ فَٱتِّبَاعٌۢ
بِٱلْمَعْرُوفِ وَأَدَآءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَـٰنٍ ۗ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ۗ
فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٨﴾

**ای مؤمنانو! تاسو ته د قتل په پیښو او قضایاو کی د قصاص حکم کیږی.په قصاص اخستلو کې( هیڅوک په هیچا باندی امتیاز او برتری نه لری) آزاد قاتل به د آزاد شخص په قتل کی اعدامیږی.دغه رازبه مریی قاتل د مریی سړی په قتل کی او ښځه به د ښځې د وژلو په بدل کی د اعدام په جزا محکومیږی، البته که کوم قاتل ته د هغه د عقیدوی ورور( د مقتول د وارث) له خوا څه ښښنه او رعایت کیږی( او د قصاص په ځای ورته دیت او خون بها ټاکل کیږی) نو په دې معامله کې هم باید له ترحم او مهربانې نه کار واخستل شی ( او د قاتل د اقتصادی وضعیت په نظر کې نیولو سره ورته مهلت ورکړی شی) او قاتل هم باید خون بها او دیت په رضا او رغبت ورکړی. دا ستاسې د رب له لوری تاسې ته آسانی او مهربانی ده او څوک چې له عفوی ( او دیت اخستو وروسته) بیا هم تیری کوی( او له قاتل نه د قصاص او انتقام اخستو هڅه وکړی) له دردوونکی عذاب سره به مخامخ شی.**

وَلَكُمْ فِى ٱلْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَـٰبِ لَعَلَّكُمْ
تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾

**ای د عقل او پوهې خاوندانو! ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی ( ترڅو له شرعی دلیل پرته، له قتل او وینو توییدو نه ) ځان وساتئ( نو د الله تعالی له حکم نه سر کشی مه کوئ).**

كُتِبَ عَلَيۡكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ إِن تَرَكَ خَيۡرًا ٱلۡوَصِيَّةُ
لِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ بِٱلۡمَعۡرُوفِۖ حَقًّا عَلَى ٱلۡمُتَّقِينَ ١٨٠

**په تاسي باندې فرض ده چې کله مو کوم تن ته د مرګ وخت رانږدې کيږی نو بايد پخپل پاتې کيدونکی مال دولت کې مورپلار او خپلو خپلوانو ته د مناسبې برخې ورکولو لپاره وصيت وکړی، دا حق دی په پرهيزګارانو باندې.**

فَمَنۢ بَدَّلَهُۥ بَعۡدَ مَا سَمِعَهُۥ فَإِنَّمَآ إِثۡمُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ
عَلِيمٞ ١٨١

**او که څوک وصيت واوری او بيا يی بدل کړی نو ګناه يی يوازې په بدلوونکې ده ( وصيت کوونکې ته به الله تعالی اجر ورکړی)،بيشکه چې الله تعالی ( د هر چا د خبرو)ښه اوريدونکی او( د هر چا په نيت) ښه پوه دی.**

فَمَنۡ خَافَ مِن مُّوصٖ جَنَفًا أَوۡ إِثۡمٗا فَأَصۡلَحَ بَيۡنَهُمۡ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ
ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ١٨٢

**که چا ته دا ويره( او شک) پيدا شی چې وصيت کوونکی په وصيت کې د عدالت له جادې وتلی،يا يی د چا طرفداری کړی( او د بل سړی حق يې تر پښو لاندې کړی او له الهی حکم نه يې تيری کړی) نو د ورثې د غړو ترمنځ د روغې جوړې او اتفاق لپاره ( د اسلامی شريعت د احکامو په رڼا کې ) په وصيت کې لازم اصلاحات راولی ، په اصلاح راوستونکی باندې هيڅ ګناه نشته ( او د وصيت د بدلون د قانون نه مستثنی دی) بيشکه چې الله تعالی ببښونکی او مهربان ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى
ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ١٨٣

**ای د ايمان خاوندانو! په تاسو روژه فرض شوې لکه څنګه چې ستاسو نه وړاندې په پخوانيو امتونو هم فرض شوې وه تر څو( له ګناهونو څخه ځان وساتئ) او پرهيزګاران درنه جوړ شی.**

أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ
مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَۚ وَعَلَى ٱلَّذِينَ يُطِيقُونَهُۥ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍۖ فَمَن
تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥۚ وَأَن تَصُومُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْۖ إِن كُنتُمْ
تَعْلَمُونَ ﴿١٨٤﴾

( روژه) څو ټاکل شوی ورځې دی (کله ۲۹ او کله ۳۰) نو که څوک درڅخه ناروغ یا په سفر کی وی ( د قضا شویو ورځو په حساب دې ) وروسته روژه ونیسی او که یی د نیولو توان نه لری( لکه عمر خوړلی او شیخ فانی) نو د هرې ورځې روژې د کفارې په توګه دی یوه مسکین ته ډوډۍ ورکړی او که څوک د واجب شوی کفارې نه زیاته فدیه په خپله خوښه ورکوی نو ډیره ورته غوره ده او روژه نیول( که څه هم سخته به وی) خو که پوه شئ نو( فضیلت او ثواب یی) درته ډیر بهتر دی.

شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ
وَبَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُۖ
وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَۗ يُرِيدُ
ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ وَلِتُكْمِلُوا۟ ٱلْعِدَّةَ
وَلِتُكَبِّرُوا۟ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمْ وَلَعَلَّكُمْ
تَشْكُرُونَ ﴿١٨٥﴾

رمضان هغه میاشت ده چې مبارک قرآن پکې نازل شوی ،هغه الهی کتاب چې سراسر د خلکو لپاره هدایت او( د حق او باطل ترمنځ) د جلاوالی څرګند دلایل پکې موجود دی نو څوک چې په دې میاشت کې (پخپل کلی کور کی مقیم وی او د رمضان المبارک) میاشت ووینی، روژه دې ونیسی او که څوک ناروغ او مسافر وی نو قضا شوې روژې دې په نورو ورځو کی پوره کړی. الله پاک تاسو ته د سهولت او راحت اراده لری، نه د سختۍ او تکلیف، نو (له دې امله درته امر کیږی ترڅو) هغه ټاکلې روژې چې ( د شرعی عذر له مخې مو خوړلی وی)

**په نورو عادی ورځو کی پوره کړئ او د الله تعالی عظمت او لویی بیان کړئ چې تاسو ته یی سمه لار دربښودلې، او شکر یی په ځای کړئ.**

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا
دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾

**او کله چې زما بندګان درنه، زما ( د نږدې والی یا لیرې والی په باب) پوښتنه کوی، ورته ووایه: بیشکه چې زه نږدې یم ، د هر دعا کوونکی دعا اورم( قبلوم یی او اړتیا یی پوره کوم) نو دوی هم باید زما د امر اطاعت وکړی او په ما ایمان راوړی ترڅو ( د حق او حقیقت) لاره پیدا کړی (او د ایمانی نور په وسیله خپلو اعلی مقاصدو ته ورسی).**

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ ٱلصِّيَامِ ٱلرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَآئِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ
وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ
فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنكُمْ ۖ فَٱلْـَٔـٰنَ بَـٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُوا۟ مَا كَتَبَ
ٱللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ ٱلْخَيْطُ ٱلْأَبْيَضُ مِنَ ٱلْخَيْطِ
ٱلْأَسْوَدِ مِنَ ٱلْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا۟ ٱلصِّيَامَ إِلَى ٱلَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَـٰشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ
عَـٰكِفُونَ فِى ٱلْمَسَـٰجِدِ ۗ تِلْكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ ءَايَـٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾

**د روژې په شپو کې تاسوته له خپلو میرمنوسره یوځای کیدل روا کړی شوی دی، هغوی ستاسو لپاره او تاسو د هغوی لپاره د جامې او لباس حیثیت لرئ. الله پاک ته څرګنده شوه چې تاسو په پټه پټه له خپلو ځانو سره خیانت کاوه( او له خپلو میرمنو سره یوځای کیدئ ) نوستاسو توبه یی قبوله کړه او له ګناه نه مو درتیر شو( او اسانتیا یی دربانده راوسته) نو اوس کولی شئ د روژې په شپو کې له خپلو میرمنو سره یو ځای شئ او د ( پاک لمنئ او نیک اولاد ) کوښښ وکړئ. همدا رنګه د شپې له مخې وخورئ او وڅښئ تر هغه وخته چې د سپیده داغ سپینه کرښه د شپې د ترګمئ له تورې لیکې جلا تر سترګو شی.له هغه وروسته دا هر څه( خوراک،**

ځښاک او جنسی اړیکې) پرېږدی او تر شپې پورې خپله روژه پوره ونیسئ او کله چې په جوماتونو کی اعتکاف کوئ نو هم له خپلو میرمنو سره نږدیوالی مه کوئ. دا ( د روژې او اعتکاف احکام) الهی حدود ( او ممنوعات او محرمات) دی چې باید ورنږدې نشئ( او تیری ترې و نه کړئ ) دغه ډول ، الله تعالی خپل احکام خلکو ته بیانوی تر څو د ( هغه د اوامرو او نواهیو له مخالفت نه) ځان وساتی.

وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ
لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقًا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ١٨٨

او د یو بل مالونه په خپل منځ کې په ناروا مه خورئ او مه یی چارواکو( او قاضیانو) ته د دې لپاره ورکوئ چې (ستاسو په حق کې په ناحقه فیصلې سره) تاسو ته په ظالمانه او ناروا توګه قصداً د خلکو د حقوقو د غصب فرصت په لاس درکړی.

۞ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡأَهِلَّةِۖ قُلۡ هِيَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلۡحَجِّۗ وَلَيۡسَ
ٱلۡبِرُّ بِأَن تَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰۗ
وَأۡتُواْ ٱلۡبُيُوتَ مِنۡ أَبۡوَٰبِهَاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ
تُفۡلِحُونَ ١٨٩

او د سپوږمۍ د ( تدریجی )نرئ کیدو او غټیدو ( د علت او حکمت ) په باب درنه پوښتنه کوی، ورته ووایه دا د خلکو د (ورځنی ژوندانه د چارو د نظام چلولو،) نیټی ټاکلو او حج د رارسیدو لپاره ( آسمانی او طبیعی تقویم) دی. او دا هم ورته ووایه چې نیکی دا نه ده چې ( له حج او سفر نه د راګرځیدو په وخت ) خپلو کورونو ته د شا له خوا په ( دیوالونو) ورواوړئ بلکه پوه شئ چې د نیکئ ملاک او معیار، تقوا( د الهی احکامو له مخالفت نه ځان ساتل دی). نو خپلو کورونو ته په دروازو ننوزئ او د الله تعالی( له قهر او عذاب) نه وویریږئ تر څو مو بریالیتوب په برخه شی.( او باور ساتئ چې دا بې معنی رسمونه اورواجونه له نیکمرغی او بدمرغئ سره هیڅ رابطه نه لری.)

وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ١٩٠

او د الله تعالی په لار کې له هغو کسانو سره وجنګیږئ چې ( د اسلامي دعوت د مخنیوی لپاره) ستاسو په خلاف د مسلحانه تیری او جګړې لام تړی خو ګوری (په جنګ کې له اسلامی حدودو او اصولو نه ) تیری ونه کړئ( د مقابل لوری وژل شوی کسان مثله نه کړئ، ماشومان، سپین ږیری، ناروغان ، زخمیان ،امان غوښتونکی او ملکی خلک و نه وژنئ، او د خلکو کورونه، باغونه او فصلونه هم تباه نه کړئ) ځکه الله تعالی تیری کوونکی نه خوښوی.

وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ
ٱلْقَتْلِ ۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمْ فِيهِ ۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمْ
فَٱقْتُلُوهُمْ ۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٩١﴾

( او چې چګړه ونښلی نو) هر ځای چې دغه ( مفسدین او جګړه پیل کوونکی) وموموئ ویې وژنئ او له کومو ځایو یې چې تاسو ویستلی یاست ویې شړئ ، پوه شئ چې فتنه ( او بت پرستی) له قتل نه هم ډیره بدتره ده او د مسجد حرام په حدودو کی تر هغه چې دوی په تاسو حمله نه وی کړی، تاسو د جګړې د پیل کیدو حق نه لرئ خو که یی لاس درباندې اوچت کړ ،له تیغه یې تیر کړئ ځکه همدغه ده د کافرانو سزا.

فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٢﴾

او که ( له کفر او جګړې نه) لاس واخلی (او په اسلام مشرف شی نو ګناهونه به یې د توبې په اوبو ومینځل شی) ځکه الله تعالی بښونکی او مهربان ذات دی.

وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِ ۖ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَلَا عُدْوَٰنَ إِلَّا
عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩٣﴾

او ترهغه ورسره وجنګیږئ ترڅو فتنه( شرک، بت پرستی او د کفر حاکمیت ) له منځه لاړ شی او یوازې د الله دین حاکم شی. نو که له خپلو ناوړو اعمالو یی لاس واخست ( او اسلام یی ومانه ) تاسو پرې هم تیرې مه کوئ ځکه تیری له ظالمانو نه غیر په بل چا روا، نه دی.

ٱلشَّهۡرُ ٱلۡحَرَامُ بِٱلشَّهۡرِ ٱلۡحَرَامِ وَٱلۡحُرُمَٰتُ قِصَاصٞۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡ
فَٱعۡتَدُواْ عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا ٱعۡتَدَىٰ عَلَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ
ٱلۡمُتَّقِينَ ١٩٤

دا د حرام میاشت( ذی القعدة) چې د عمرې د اداء کولو نیت مو پکې کړی د پروسږنې) همدې میاشتې په بدل کې ده (چې د مکې کافرانو د حرام د میاشتې احترام و نه کړ او تاسو یې د بیت الله شریف له زیارت او عمرې نه منع کړی، نو سږکال تاسو ته هم اعلان دی چې ) د مقدساتو حرمت په ټولو خواو یو شان لازم دی او که څوک د حرام په میاشت کې په تاسو تیری وکړی ، تاسو هم ورسره په هماغه شدت وجنګیږئ( او د ځان دفاع وکړئ) خو له الله تعالی نه په ویره کې اوسئ او وپوهیږئ چې الله تعالی د پرهیزګارانو ملګری دی( هغوی چې د الهی حدودو احترام ساتی).

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ وَأَحۡسِنُوٓاْۛ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ
ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٩٥

او د الله تعالی په لار کې نفقه ورکړئ ( او د نفقې په پریښودو سره) ځانونه په هلاکت کې مه غورځوئ. د نیکئ او خیر ښیګڼې لپاره هلې ځلې وکړئ ځکه الله پاک له نیکی کوونکو سره خاصه مینه کوی.

وَأَتِمُّوا۟ ٱلْحَجَّ وَٱلْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْىِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا۟
رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ ٱلْهَدْىُ مَحِلَّهُۥ ۚ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ
فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلْعُمْرَةِ إِلَى ٱلْحَجِّ
فَمَا ٱسْتَيْسَرَ مِنَ ٱلْهَدْىِ ۚ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ فِى ٱلْحَجِّ وَسَبْعَةٍ
إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَن لَّمْ يَكُنْ أَهْلُهُۥ حَاضِرِى ٱلْمَسْجِدِ
ٱلْحَرَامِ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ١٩٦

**کله چې د الله تعالی د رضا لپاره حج او عمره پیل کړئ نو پوره پوره یې سرته ورسوئ( او په نیمه کې یې مه پریږدئ) خو که(دښمن یا ناروغئ) د مناسکو له اداء کولونه منع کړئ (او احرام پرانستلو ته اړ شوئ) نو د خپل توان په اندازه قربانی وکړئ ( او احرام پرانیزئ) خو سرونه مو تر هغه مه کلوئ تر څو د قربانئ څاروی( د بل چا په واسطه) د حلالولو ځای( مکې معظمې) ته ورسی او که څوک ناروغ وی او یا یی په سر کی کوم تکلیف وی ( او مجبور شی چې خپل سر په دغه حالت کی وخریی) نو باید د فدیی په توګه( درې ورځې) روژه ونیسی یا( د هرې ورځې روژې په ځای شپږو مسکینانو ته ) خواړه برابر کړی او یا یو پسه قربانی کړی، خو که (له دښمن او ناروغئ نه) په امن کې یاست( او حج او عمرې ته لاړ شئ) نو چاچه عمره سره له حجه اداء کړه باید د خپلی وسې سره سم قربانی وکړی خو که ( یی د پیسو وسه نه وی یا څاروی پیدا نشی ) نو درې ورځې روژه دې د حج په ورځو او اوه ورځې دی خپل کورته په رسیدو ونیسی چې ټولې لس ورځې پوره کیږی او باید له پامه ونه غورزول شی. دغه( د حج قران اوحج تمتع) اسانتیاوې د هغو حاجیانو لپاره دی چې کورکهول یی د مسجد حرام په حدودو( مکه معظمه) کی نه وی. د الله تعالی د دې احکامو له تخلف نه ځان وساتئ او باور ولرئ چې الله تعالی د ډیر سخت عذاب ورکوونکی دی.**

ٱلۡحَجُّ أَشۡهُرٞ مَّعۡلُومَٰتٞۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلۡحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا
فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي ٱلۡحَجِّۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ
وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُونِ يَٰٓأُوْلِي
ٱلۡأَلۡبَٰبِ ١٩٧

د حج معلومې میاشتې دی( د شوال له لومړۍ نیټې نه د لوی اختر یعنې د ذوالحجې تر لسمې پورې) نو چا چې په دې میاشتو کې د حج اراده وکړه( احرام یې وتاړه او تلبیه یې وویله) حج ورباندې فرض شو او باید د حج په دوران کی له شهوانی عمل ، ناوړه خبرو او افعالو او جنګ جګړې څخه ځان وساتی ، د خیر هر کار چې تاسو سرته رسوئ الله تعالی پرې ډیر ښه پوهیږی او د حج لپاره له ځان سره توښه واخلئ او تر ټولو ښه توښه پرهیزګاری ده، نو ای هوښیارانو زما د احکامو له نافرمانۍ نه ډډه وکړئ.

لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ
فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ
ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن
كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ١٩٨

په تاسو هیڅ ګناه نشته که د حج په اوږدو کې (د تجارت او راکړې ورکړې له لارې د الله تعالی فضل ( حلال رزق او مادی ګټې )ولټوئ. او کله چې له عرفات نه روان شوئ نو په مشعرالحرام(مزدلفه) کې ( د ماښام ، ماسختن او سهار د لمانځه په اداء کولو او پرله پسې تلبیو او دعا ګانو سره) الله پاک یاد کړئ ( چې تاسو یی د هدایت په لاره روان کړی یاست او د دین احکام او د حج مناسک یی درزده کړی )او له دې وړاندې تاسو بې لارې واست.

ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ ٱلنَّاسُ وَٱسْتَغْفِرُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٩٩﴾

**بیا ( د لوی اختر په سهار)له هغه ځایه( مزدلفې نه)د نورو خلکو په شان ( د رمی جمرات او قربانۍ لپاره(مینا ته) روان شی او د خپلو گناهونو او انحرافاتو) ښښنه وغواړی بیشکه چې الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی( او د خپلو مخلصو بندگانو توبه قبلوی).**

فَإِذَا قَضَيْتُم مَّنَٰسِكَكُمْ فَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَذِكْرِكُمْ ءَابَآءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًاۗ فَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا وَمَا لَهُۥ فِى ٱلْأَٰخِرَةِ مِنْ خَلَٰقٍ ﴿٢٠٠﴾

**نو کله چې ( د لوی اختر د لومړۍ ورځې مناسک (چې شیطانان ویشتل، قربانی، سر خریيل او طواف افاضه یکې شامل دی) اداء کړی، د خپلو پلرونو او نیکونو د مناقبو د بیانولو په ځای بلکه له هغه نه هم زیات د الله تعالی ثنا او صفت بیان کړئ. څوک چې خپله دعا یوازې په دنیا پورې محدوده کړی او ووایی : یا ربه خپل ټول نعمتونه او نیکمرغۍ راباندې په همدې دنیا کې راووروه ، نو دغه کسان به د آخرت له نعمتونو او فضیلتونو او الهی رضا نه بې برخې وی.**

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِى ٱلْأَٰخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿٢٠١﴾

**او نور هغه چې(حقیقی مؤمنان دی) دعا کوی چې ای زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا او آخرت دواړو کې نیکمرغی راپه برخه کړه او د اور له عذابه مو وساته.**

أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّمَّا كَسَبُواْۚ وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٢٠٢﴾

**دا کسان په دنیا او آخرت دواړو دارینو کې د خپلو نیکو اعمالو پوره پوره اجر او ثواب ترلاسه کوی او بیشکه چې د الله تعالی د حساب کتاب سیستم ډیر چټک دی.**

۞ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ فِىٓ أَيَّامٍ مَّعْدُودَٰتٍ ۚ فَمَن تَعَجَّلَ فِى يَوْمَيْنِ
فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَن تَأَخَّرَ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ ۚ لِمَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ
وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

**او د ( ایام تشریق) درې معلومې او ټاکلې ورځې ( چې د ذوالحجې یولسمه، دولسمه او دیارلسمه ده او په منی کې د حاجیانو د وقوف ورځې دی) باید د الله تعالی په ذکر او تکبیر او تهلیل کې تیرې کړی، نو که څوک په دوو ورځو کې (د منی د دریو ورځو واجبات سر ته رسوی او مکې ته په بیرته تللو کې) بیړه کوی، کومه ګناه پرې نشته او که د زیاتی پرهیزګاری لپاره دریمې ورځې ته پاتې شی نو هم څه ګناه پرې نشته. د الله تعالی له نافرمانی نه ځان وساتی او پوره باوری اوسی چې هرومرو به د هغه په حضور کې د حساب ورکولو لپاره ودریږی.**

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُۥ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَيُشْهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ
مَا فِى قَلْبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾

**په انسانانو کې ځینې داسې دی چې په دنیوی چاروکې یی خبرې تاته ډیرې جذابې او خوږې ښکاری او( د کلام فصاحت او حلاوت ته به یی حیرانیږې ، په هره خبره کې په خپل نیک نیت او صداقت او د وینا او عمل په یووالی) الله تعالی ګواه نیسی خو په باطن کې ( د حق) سرسخته دښمن دی.**

وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ ٱلْحَرْثَ
وَٱلنَّسْلَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾

**او کله چې د مقام او قدرت واګې تر لاسه کړی نو ټولې منډې تړړې او هلې ځلې یی په ځمکه کې فساد او تباهی خپرولو، د کښتونو شاړولو او د (انسانی او حیوانی) نسل له منځه وړلو او پوپنا کولو ته وقف وی، په داسې حال کې چې الله تعالی ( چې ده پخپل نیت ګواه نیولی)،هیڅکله فساد نه خوښوی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتْهُ ٱلْعِزَّةُ بِٱلْإِثْمِ ۚ فَحَسْبُهُۥ جَهَنَّمُ ۚ
وَلَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾

او چې ورته وويل شی له خدايه وويريږه( څه چې وايي لومړی پرې خپله عمل وکړه او د فساد په ځای د اصلاح او خير ښيګڼې لار ونيسه نو شيطانی) غرور او تکبر يی نور هم پسې ګناه ته وهڅوی. د دغو کسانو ځای دوزخ دی چې تر ټولو بد هستوګنځی دی.

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾

او ځينی بيا هغه کسان دی چې د الله تعالی د خوښی لپاره خپل ځانونه قربانوی ( او د هغه رضا له دنيا او مافيها نه اوچته ګڼی). او بيشکه چې الله پاک پخپلو بندګانو ډير مهربان دی ( او د لږ شان مخلصانه عمل په بدل کې ورته ابدی نيکمرغی ورکوی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱدۡخُلُواْ فِي ٱلسِّلۡمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ﴿٢٠٨﴾

ای مؤمنانو! په کامله توګه( په ظاهر او باطن او عقيده او عمل کې) په اسلام کې داخل شئ او د شيطان د اوامرو ( او وسوسو) پيروی مه کوئ او په پله يی پل مه ږدئ ځکه هغه ستاسو سرسخته دښمن دی.

فَإِن زَلَلۡتُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡكُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾

خو که( د ښکاره او روښانه دلايلو او حجتونو له ليدلو وروسته بياهم له حقې لارې ) منحرف او وښويدئ نو وپوهيږئ چې الله پاک مقتدر او حکيم ذات دی ( او هر مجرم ته د هغه د جرم سره سم مناسبه سزا ورکوی).

هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِي ظُلَلٖ مِّنَ ٱلۡغَمَامِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرۡجَعُ ٱلۡأُمُورُ ﴿٢١٠﴾

آيا ( کافران ) دا غواړی چې الله تعالی او پرښتې ورته د وريځو په سيورو کې مخامخ راشی، او د دوی د اعمالو د مکافات او مجازات فيصله وکړی ( نو دوی به بيا ايمان راوړی، دغه ډول ايمان د منلو وړ نه دی) بی له شکه چې ټولې چارې بالاخره د الله تعالی حضور ته ورګرځی( او هغه به وربانډې مناسب حکم صادروی).

سَلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ كَمۡ ءَاتَيۡنَٰهُم مِّنۡ ءَايَةِۭ بَيِّنَةٖۗ وَمَن يُبَدِّلۡ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ مِنۢ
بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢١١

**( ای پیغمبره) له بنی اسرائیلو نه پوښتنه وکړه چې مونږ دوی ته څومره لویی معجزې او څومره ښکاره دلایل ورکړی وو( خو هغوی د الله تعالی په نعمتونو سترګې پټې کړې او ناشکری یی وکړه) او څوک چې الهی نعمت تحریف او تبدیل کړی( او د کفر او نا شکری لاره ونیسی، په سخت عذاب به اخته شی) ځکه الله تعالی د سختې سزا ورکوونکی ذات دی.**

زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا وَيَسۡخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ
وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ
حِسَابٖ ٢١٢

**کافرانو ته دنیوی ژوند ښکلی کړی شوی( او همدې فانی نعمتونو او ظاهری ځل او پړک، دوی تیر ویستلی او د آخرت له حقیقی نیکمرغۍ نه یی داسې غافل کړی چې په تش لاسو) مؤمنانو باندې ملنډې وهی، خو متقیان به د قیامت په ورځ له دوی نه ډیر لوړ او اعلی مقام ولری . او هر چاته چې الله تعالی اراده وکړی( بی له دې چې ایمان او کفر یی په نظر کې ونیسی) بې حسابه مال دولت او پراخه روزی ورکوی( خو بالاخره یې د حساب او کتاب ورځ هم مخې ته راتلونکې ده).**

كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ
وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِۚ
وَمَا ٱخۡتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ بَغۡيَۢا
بَيۡنَهُمۡۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦۗ
وَٱللَّهُ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٍ ٢١٣

**انسانی ټولنه( له آدم علیه السلام نه تر نوح علیه السلام پورې په واحد دین اسلام باندې راټوله وه خو د وخت په تیریدو او د بتانو د پرستش په رواجیدو سره خلک د مؤمنانو او کافرانو په نوم په دوو ډلو وویشل شول) نو الله پاک خپل پیغمبران راواستول ( ترڅو د ایمان او صالح عمل لرونکو ته د جنت او اخروی نیکمرغی ) زیری ورکړی او ( کافران او مفسدین د دوزخ له عذابه) وویروی. آسمانی کتاب یی هم ورسره په حقه راواستاوه ترڅو د خلکو ترمنځ ( رامنځته شوی عقیدوی اختلافی مسایل حل و فصل کړی.) هیڅا د آسمانی حق کتاب مخالفت ونه کړ خو بس یوازې (همدا یهود او مسیحیان وو) چې کتاب هم همدوی ته ورکړی شوی و او روښانه دلایل او معجزې هم ورته راغلې وې بیا یی هم ( د دنیوی ګټو) او خپل منځی کینې او بغض له امله مخالفت ته ملا وتړله نو الله تعالی، په ټولو اختلافی مسائلو کې، هغه کسان د هدایت په مستقیمه لار برابر کړل چې په الهی پیغمبرانو یې ایمان راوړی و.او الله پاک هرچاته چې اراده وکړی، د هدایت په لاره یې برابروی.**

أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ٢١٤

**( ای محمدی امته ؟)آیا داسې انګیری چې (بې له ازمیښتونو) به جنت ته ننوځی او لا به ( د صبر او استقامت) له هغې ازموینې نه بریالی وتلی نه یاست چې له تاسو نه پخوانی مؤمنان ورسره مخامخ شوی وو، هغوی (مالی او ځانی) زیانونه وګالل، کړاوونه او مصیبتونه ورته واوښتل، د اضطراب او پریشانیو داسی سختې شیبې ورباندې راغلې چې آن د وخت پیغمبر او د هغه مؤمنو ملګرو ( په دعاګانو کې په یوه آواز) چیغې کړې: یا الله مرسته دې کومه او کله ده؟( او له دغو سختو ازمایښتونو نه وروسته، الله په خپله وعده وفا وکړه او مؤمنانو ته یی ډاډ ورکړ چې) خبردار د الله مرسته ډیره نږدې ده.**

يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَۖ قُلۡ مَآ أَنفَقۡتُم مِّنۡ خَيۡرٖ فَلِلۡوَٰلِدَيۡنِ وَٱلۡأَقۡرَبِينَ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۗ وَمَا تَفۡعَلُواْ مِنۡ خَيۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ ٢١٥

**( ای پیغمبره! مؤمنان) درنه د( الله په لار کې) د لګښت په باب پوښتنه کوی، ورته ووایه کوم ( پاک مال او پیسې چې د الله تعالی د رضا لپاره) نفقه کوی، نو مور پلار،خپلوخپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مسافرو ته یی**

**ورکړئ ( یا یی د هغوی د خیر ښیګڼې په چارو کې مصرف کړئ) او باور ساتئ چې الله تعالی ستاسو په هره ښیګڼه ښه خبر دی.**

كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا
وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا۟ شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ
وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢١٦﴾

**( د اسلام له دښمنانو سره) مسلحانه جهاد په تاسو باندې ( په کفایی ډول ) فرض شوی او تاسو ورنه ( د خپل فطرت په اساس) کرکه کوئ خو ډیر داسې شیان به وی چې تاسو یی بد ګڼئ او هغه به ستاسو لپاره ډیر غوره او ګټور وی او کیدی شی تاسو یو کار د ځان لپاره خوښ کړئ خو هغه ستاسو لپاره مضر ثابت شی. الله پاک ( د کارونو په رمزونو او ستاسو په خیر او مصلحت ) ښه پوهیږی او تاسو( د کارونو له اسرارو بې خبره یاست او څومره چې ښایی پخپل خیر او مصلحت) نه پوهیږئ.**

يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ
عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ
أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمْ
حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَـٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ
عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ فِى
ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا
خَـٰلِدُونَ ﴿٢١٧﴾

ستا نه پوښتنه کوی چې د حرام په میاشتو کې د جنګ حکم څه دی ؟ ورته ووایه په دغو میاشتو کې جنګ لویه ګناه او ناروا عمل دی خو د الله له حقې لارې (اسلام) نه خلک منع کول، کفر اختیارول او د مسجد حرام نه د خلکو بندول او اوسیدونکی یی ترې په زور او جبر ایستل د الله په وړاندې له ټولو نه لا سخته ګناه ده او برسیره په دې، فتنه او فساد له قتل نه هم لا پسې لوی جرم دی .( د مکې مشرکین چې د دغو ټولو ناوړو اعمالو مرتکب شوی) تر هغه به ستاسو په وړاندې جنګیږی تر څو که توان یی ورسی او تاسو له خپل دین نه واړوی خو ( واوری) که ستاسو نه څوک له اسلام نه منحرف او د کفر په حال کې مړ شی، ټولې نیکې کړنې به یی په دنیا او آخرت کې په سیند لاهو شی . دوی دوزخیان دی او تل تر تله به په دوزخ کی پراته وی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أُوْلَٰٓئِكَ يَرۡجُونَ رَحۡمَتَ ٱللَّهِۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٢١٨

هغو کسانو چې ایمان یی راوړی ( او په خپل ایمان ټینګ ولاړ دی) او هغو چې د الله پاک په لار کې یی( د دارالکفر نه دارالاسلام ته) هجرت او فی سبیل الله جهاد کړی، د الله تعالی رحمت ته سترګې په لار دی او بیشکه چې الله پاک ښونکی او رحم کوونکی ذات دی.

۞ يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ ٱلۡعَفۡوَۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَتَفَكَّرُونَ ٢١٩

ستا نه د شرابو او جوارئ د ( احکامو) په باب پوښتنه کوی ورته ووایه په دواړو کې لویه ګناه ده او که څه هم د خلکو لپاره څه ګټې لری خو ګناه یی له ګټې نه ډیره زیاته ده او دا پوښتنه هم درنه کوی چې څه شی نفقه کړو ورته ووایه له خپلو مصارفو نه زیاته پاتې شوې برخه (په نفلی توګه) صدقه کړئ. په دې توګه الله تعالی خپل آیتونه ( او احکام) تاسو ته په څرګنده توګه بیانوی، ترڅو فکر وکړئ،

فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۗ وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡيَتَٰمَىٰۖ قُلۡ إِصۡلَاحٞ لَّهُمۡ خَيۡرٞۖ وَإِن تُخَالِطُوهُمۡ فَإِخۡوَٰنُكُمۡۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ ٱلۡمُفۡسِدَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَعۡنَتَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ﴿٢٢٠﴾

د خپل دنیوی او اخروی (خیر او مصلحت لپاره).او د یتیمانو په باب ستانه پوښتنه کوی ( چې څه ډول سرپرستی یی باید وشی؟) ورته ووایه بهتره داده چې د هغوی د خیر ښیگڼې لپاره اقدامات وشی( نه دا چې یوازې او پخپل سر پریښودل شی) او که ورسره گډ ژوند وکړی( او هغوی په خوراک څښاک او معاملاتو کې له ځان شریک کړی هم درته اجازه ده)ځکه هغوی ستاسو دینی ورونه دی او الله تعالی د مصلح او مفسد ترمنځ ډیر ښه توپیر کوی ( او پوهیږی چې څوک د یتیم د ښې پالنې او سرپرستی په فکر کې دی او څوک یی مال ته غل دی) او که الله تعالی (ستاسو د زورولو اراده لرلی نو د یتیمانو د سر پرستی لپاره به یی دربانډې سخت شرایط او وظایف بار کړی وو خو اوس یی درته ټول شرایط اسان کړل) بیشکه چې الله تعالی غالب او حکیم ذات دی( او د خپلو بندگانو د خیر او مصلحت سره سم قوانین وضع کوی.)

وَلَا تَنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكَٰتِ حَتَّىٰ يُؤۡمِنَّۚ وَلَأَمَةٞ مُّؤۡمِنَةٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكَةٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَتۡكُمۡۗ وَلَا تُنكِحُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَتَّىٰ يُؤۡمِنُواْۚ وَلَعَبۡدٞ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٞ مِّن مُّشۡرِكٖ وَلَوۡ أَعۡجَبَكُمۡۗ أُوْلَٰٓئِكَ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَٱللَّهُ يَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلۡجَنَّةِ وَٱلۡمَغۡفِرَةِ بِإِذۡنِهِۦۖ وَيُبَيِّنُ ءَايَٰتِهِۦ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٢١﴾

مشرکې( بت پرستې) ښځې ترهغه چې ایمان را نه وړی په نکاح مه اخلئ. له اصیلی مشرکې نه که څه هم ( ښکلا، مال او حیثیت یی )ستاسو زړه وړی وی،بیا هم یوه مسلمانه وینزه ډیره ښه ده او مشرکانو( بت پرستانو) ته هم ترهغه چې ایمان یی نه وی راوړی مسلمانه ښځه په نکاح مه ورکوی، له اصیل مشرک نه که څه هم ( ځوانی، مال او حیثیت) یی ستاسو ډیر خوښ وی ، یو مسلمان مریی ډیر ښه دی . دا ( مشرکان) تاسو د اور پلو راکاږی او الله تعالی درته په خپل اذن او فرمان د جنت او ښښنې بلنه درکوی او خپل احکام

خلکو ته په واضحو دلایلو بیانوی ترڅو( هغوی خپله صلاح او ابدی نیکمرغی وپیژنی ) او د عبرت درس واخلی.

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡمَحِيضِۖ قُلۡ هُوَ أَذٗى فَٱعۡتَزِلُواْ ٱلنِّسَآءَ فِي
ٱلۡمَحِيضِ وَلَا تَقۡرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطۡهُرۡنَۖ فَإِذَا تَطَهَّرۡنَ فَأۡتُوهُنَّ مِنۡ
حَيۡثُ أَمَرَكُمُ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢

او د حیض د احکامو په باب ستا نه پوښتنه کوی ورته ووایه دا یوه پلیتی( او ځوروونکی حالت) دی نو د حیض په حال کې له خپلو میرمنو څخه ځانونه لیرې وساتی او تر هغه چې پوره پاکې شوې نه وی، (په حیض کې) ورسره جنسی مقاربت مه کوئ ( ځکه له نافرمانئ نه علاوه ځینې ناروغئ هم ترې پیدا کیږی). خو کله چې د طهارت( غسل وکړی) بیا نو له هغې لارې ورنږدې شئ چې الله تعالی یی درته ( په فطری توګه) امر کړی، بیشکه چې الله تعالی له توبه کوونکو سره مینه کوی او له طهارت او سپیڅلتیا خوښوونکو سره مینه کوی.

نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ
ٱللَّهَ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّكُم مُّلَٰقُوهُۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٢٢٣

ستاسو میرمنې ستاسو لپاره( د انسانی نسل) کښتونه دی نو په هره طریقه چې مو خوښه وی په خپلو کښتونو کی تصرف کولی شئ ( په دې شرط چې له طبیعی محل نه تیری و نه کړئ) او خپل نیک اعمال له ځانه وړاندې واستوئ( او خپل اولادونه د دین، اخلاقو او انسانیت په ګاڼه سمبال کړی) ، د الله تعالی له عذاب نه ځان وژغورئ او باور ساتئ چې( د حساب کتاب لپاره به) د هغه حضور ته ورځئ او مؤمنانو ته (د بری او ابدی نیکمرغی) زیری ورکړه.

وَلَا تَجۡعَلُواْ ٱللَّهَ عُرۡضَةٗ لِّأَيۡمَٰنِكُمۡ أَن تَبَرُّواْ وَتَتَّقُواْ
وَتُصۡلِحُواْ بَيۡنَ ٱلنَّاسِۚ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٞ ٢٢٤

د الله نوم د خپلو هغو قسمونو لپاره حجت او سند مه جوړوئ چې تاسو د نیکی ، پرهیزګارئ او د خلکو تر منځ د سولې او خیر ښیګڼې د چارو څخه منع کوی( مثلا ووایی والله که له فلانی سره نیکی وکړم ، والله که ورسره خبرې وکړم ، والله که د دوی تر منځ سوله وکړم، دغسې قسمونه باید مات شی او کفاره یی ورکړی شی) الله پاک ستاسو ټولې خبرې اوری او په ټولو اعمالو مو پوهیږی.

لَّا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِيٓ أَيْمَٰنِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ۗ
وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٢٢٥﴾

الله تعالی تاسو په هغو بې معنی قسمونو چې تاسو یی بې ارادې او یوازې د عادت له مخې یادوی، نه نیسی ( او کفاره هم وربانديې نشته) خو په هغو قسمونو مو نیسی( او کفاره به هم ورکوی) چې د ارادې له مخې او د زړه له کومی یې یادوی. بیشکه چې الله پاک ډیر ښښونکی او زغم لرونکی ذات دی.

لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ ۖ فَإِن فَآءُو فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿٢٢٦﴾

د هغو کسانو لپاره چې له خپلو میرمنو څخه د جلا والی قسم کوی څلور میاشتې ( شرعی ) مهلت او انتظار دی ، که په دغو موده کې سره بیرته خپل ګډ ژوند جوړ کړی ( هیڅ ګناه وربانديې نشته څکه) الله تعالی مهربان او ښښونکی ذات دی.

وَإِنْ عَزَمُوا۟ ٱلطَّلَٰقَ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٢٧﴾

او که یی د طلاق اراده وکړه( نو هم ګناه وربانديې نشته. بې له شکه چې وینا او عمل یی له الله پاک نه پټ نشی پاتی کیدی) او الله تعالی اوریدونکی او پوه ذات دی.

وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن
يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِيٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ
وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا۟ إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ
بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾

طلاقی شوې ښځې باید( له بل چا سره د نکاح لپاره) درې حیضه انتظار وکړی( څکه که حامله وی حمل به یې ښکاره شی او د یوه اولاد به د بل چا نشی) او که په الله او د قیامت په ورځ ایمان لری نو باید هغه ( حمل یا حیض) چې الله د دوی په رحم کې پیدا کړی، پټ نه کړی او که میرونه یی بیرته د روغې جوړې او خپل کورنی ژوند د اصلاح نیت لری نو( د همدې عدت په موده کی) بیرته خپلې میرمنې راوستلی شی. ښځه او خاوند په یو

بل باندی په نیکه او معروفه توګه مساوی او یوشان حقوق لری البته خاوند ته ( د کورنی د قیم او مدیر په حیث ) په ښځه باندې یوه درجه فضیلت او امتیازی حق ورکړی شوی ( او کولی شی چې د خپلې میرمنې سره د خپل کورنی مینه ناک ژوند د بیا پیل فیصله وکړی) او الله تعالی( د خپلو ټولو احکامو په تطبیق) برلاسی او د حکمت او پوهې څښتن دی.

ٱلطَّلَٰقُ مَرَّتَانِۖ فَإِمۡسَاكُۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحُۢ بِإِحۡسَٰنٖۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمۡ أَن تَأۡخُذُواْ مِمَّآ ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ شَيۡـًٔا إِلَّآ أَن يَخَافَآ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۖ فَإِنۡ خِفۡتُمۡ أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَا فِيمَا ٱفۡتَدَتۡ بِهِۦۗ تِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ فَلَا تَعۡتَدُوهَاۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٢٩

رجعی طلاق دوه ځله دی ( چې له هر ځل نه وروسته) یا په نیکه او معروفه توګه د خپلې میرمنې ساتل دی او یا یې په خیر او نیکۍ سره پریښودل دی. او تاسو ته دا روا، نه ده چې د خپلو میرمنو د زورولو لپاره د هغوی د مهریو نه کومه برخه بیرته واخلی خو که دواړه( ښځه خاوند) له دې ویرې چې وروسته له دې د الله تعالی په ټاکلو حدودو کې ګډ ژوند نشی کولی( په تیره بیا ښځه و نه غواړی چې د خپل خاوند اطاعت وکړی( نو ای د شرعیت حاکمانو، قاضیانو او منځګړو!) که تاسو دا ویره احساسوی چې دغه ښځه خاوند په خپل ګډ ژوند کی د الله احکام نشی په ځای کولی ( په دې صورت کې ښځه کولی شی د فدیی په بدل کې له خاوند نه ځان آزاد کړی ) دا ( د نکاح او طلاق په باب ) د الله تعالی حدود دی چې باید سرغړونه ترې ونشی او څوک چې د الهی احکامو له حدودو تیری کوی په حقیقت کی ظالمان دی.

فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُۥ مِنۢ بَعۡدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوۡجًا غَيۡرَهُۥۗ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يَتَرَاجَعَآ إِن ظَنَّآ أَن يُقِيمَا حُدُودَ ٱللَّهِۗ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٢٣٠

نو که څوک( د دوو طلاقو نه وروسته د دریم ځل لپاره) ښځه طلاقه کړی، بیا نو ورته حلاله نه ده تر هغه چې دغه ښځه له بل سړی سره شرعی نکاح وتړی او هغه یې بیا( له جنسی مقاربت نه وروسته په طبیعی توګه طلاقه کړی او یا یې دغه نوی خاوند وفات شی، خو که دویم خاوند ورسره د دې لپاره نکاح تړی چې بیرته به

یی طلاقوی او د لومړی لپاره به یی حلالوی  نو دا کار کاملا حرام او د الله تعالی د لعنت وړ دی) خو که دویم خاوند هغې ته قانونی طلاق ورکړی او بیا دغه دواړه ( لومړنی ښځه خاوند) په دې رضا شی چې د یو بل حقوق به د الله تعالی د حدودو په رڼا کې اداء کوی، نو  اجازه لری چې بیرته( د نوی نکاح په تړلو) یو بل ته رجوع وکړی. دا د الله تعالی ټاکلی حدود( او احکام) دی د هغو خلکو بیانیږی چې( په اسلامی شریعت  ایمان لری او د الهی حدودو د ماتولو په ناوړه عاقبت) پوهیږی.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍۚ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا۟ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُۥۚ وَلَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ هُزُوًاۚ وَٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ وَٱلْحِكْمَةِ يَعِظُكُم بِهِۦۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٣١﴾

او کله چې ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوی خپل عدت ته ورسی،( د ضرر رسولو او زورولو لپاره یی چلونه چلوتې مه جوړوئ) یا یی په نیکه او معروف توګه( د خپلو حقیقی میرمنو په حیث ) وساتئ او یا یی په محترمانه توګه رخصت کړئ ( تر څو ستاسو له نکاح نه آزادې او د خپل نوې ژوند لپاره تصمیم ونیسی خو څوک چې هغوی د ربړولو او زورولو لپاره په داسې حالت کې وساتی چې نه ورسره مینه لری او نه ورته ضرورت) نو یقینا چې په ځان یی ظلم کړی( او د الهی عذاب سره به مخامخ شی).او د الله تعالی په آیتونو ملنډې مه وهئ( مه په ټوکو سره طلاق ورکوی او مه نکاح تړئ ځکه په ټوکو، ډرامو او تمثیلی پارچو کې نکاح تړل او طلاق ورکول دواړه نافذالعمل ګڼل کیږی)  او هغه الهی نعمتونه په یاد ساتئ چې تاسو ته یی د کتاب او حکمت( قرآن اوسنت) د نصیحتونو په بڼه نازل کړل ترڅو پند ترې واخلئ ، له الله تعالی نه وویریږئ او پوه شئ چې هغه ستاسو په ټولو اعمالو پوه دی.

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ
أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ
يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ
لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾

**او که خپلو میرمنو ته( یو یا دوه طلاقه ) ورکړئ او هغوی هم خپل عدت پوره کړی او بیرته همدغه ښځه او خاوند وغواړی چې په خپل منځی رضا او موافقه ، په معروفه اومناسبه توګه بیرته سره نکاح وتړی نو تاسو ورته خنډونه مه پیدا کوئ. څوک چې په الله او آخرت ایمان لری په دې احکامو عمل کوی او همدا ورته مناسبه او سپیڅلی لار ده . الله پاک ( په هغو ټولو ګټو او مصالحو چې د دغو احکامو په تطبیق کې ستاسو لپاره نغښتی دی) ښه پوهیږی او تاسو یی ( په حقیقی راز) نه پوهیږئ.**

۞ وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ
ٱلرَّضَاعَةَ ۚ وَعَلَى ٱلْمَوْلُودِ لَهُۥ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ
إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦ ۚ وَعَلَى
ٱلْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ ۗ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا
جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ۗ وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا
سَلَّمْتُم مَّآ ءَاتَيْتُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ
بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾

**هغه میندې چې غواړی خپلو ماشومانو ته د تی ورکولو موده پوره کړی، نو باید پوره دوه کاله خپلو اولادونو ته تی ورکړی.( د طلاق او جلاوالی په صورت کې) د تی ورکوونکو میندو د خوراک پوښاک مصارف، د ماشوم د پلار په غاړه دی (خو مالی توان یی باید په نظر کی ونیول شی) په هیچا باندې د هغه د توان او طاقت نه**

زیات بار نشی ایښودل کیدی، نه دې مور له دې امله وزورول شی چې ماشوم د هغې دی او نه دې پلار وکړول شی چې ماشوم د هغه دی( بلکه پلار به د خپل اقتصادی توان سره سم د ماشوم او د هغه د مور مصارف ورکوی او مور به ورباندې له حد نه زیات مصارف نه باروی او که د ماشوم پلار وفات شی ) نو وارث به یی د مور او ماشوم مصارف ورکوی . که پلار او مور دواړه په دی موافقه وکړی چې خپل ماشوم له دوو کالو نه وړاندې له تی نه جلا کړی وبال یی نشته او که ورله د تی ورکولو لپاره بله دایه نیسی هم کومه ګناه ورباندې نشته په دې شرط چې دایی ته د عرف او توان په اندازه معاش ورکړی .له الله تعالی نه وویریږئ ( او د خپلو اولادونو د تربیت لپاره زیاته پاملرنه وکړی) بیشکه چې الله تعالی ستاسو کړنې وینی.

وَٱلَّذِينَ يُتَوَفَّوۡنَ مِنكُمۡ وَيَذَرُونَ أَزۡوَٰجٗا يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرۡبَعَةَ أَشۡهُرٖ وَعَشۡرٗاۖ فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا فَعَلۡنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٢٣٤

او هغه ښځې چې میرونه یی وفات کیږی باید څلور میاشتې او لس ورځې انتظار وباسی ( او چاته نکاح نشی). کله چې دغه ټاکلی موده سرته ورسی او په نیکه او متعارفه توګه د خپل راتلونکې ژوند په باب فیصله کوی نو په تاسو ( چارواکو، د میره په وارثانو او د ښځی په خپلو خپلوانو) هیڅ ګناه نشته او الله تعالی ستاسو په ټولو اعمالو ښه خبر دی.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ فِيمَا عَرَّضۡتُم بِهِۦ مِنۡ خِطۡبَةِ ٱلنِّسَآءِ أَوۡ أَكۡنَنتُمۡ فِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ عَلِمَ ٱللَّهُ أَنَّكُمۡ سَتَذۡكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُواْ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗاۚ وَلَا تَعۡزِمُواْ عُقۡدَةَ ٱلنِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبۡلُغَ ٱلۡكِتَٰبُ أَجَلَهُۥۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٞ ٢٣٥

او په دې کې هم په تاسو څه ګناه نشته چې کونډو ښځو ته د عدت په موده کې په اشاره اوکنایه د واده وړاندیز وکړئ او یا یی هیله په خپلو زړونو کې پټه وساتئ. الله پاک پوهیږی چې هغوی به په زړونو کې دریادیږی خو

پام چې په پټه ورسره د واده ژمنه نشی کولی بلکه د واده پیشنهاد به په معروفه او روا توګه وړاندې کیږی. د عدت د پایته رسیدو وړاندې هم ورسره د نکاح هوډ نشی کولی او پوه شی چې الله تعالی ستاسو د زړونو په رازونو هم خبر دی نو ورڅخه وویریږی . په دې هم پوه شی چې الله تعالی ببنونکی او د پوره زغم لرونکی ذات دی( او په وړو وړو خبرو مو نه رانیسی).

لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا۟ لَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى ٱلْمُوسِعِ قَدَرُهُۥ وَعَلَى ٱلْمُقْتِرِ قَدَرُهُۥ مَتَـٰعًۢا بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٢٣٦﴾

په تاسو هیڅ ګناه نشته ( که د بیلا بیلو علتونو له مخې) خپلو میرمنو ته مخکې له دې طلاق ورکړئ چې نه مو لاس ور وړی،او نه مو ورته مهر مقرر کړی وی، په دې صورت کې هغوی ته څه بخشش (پیسې او سوغات) ورکول ضروری دی. شتمن دې د خپل وس او بې وسه اوتنګلاسی دې د خپلو اقتصادی امکاناتو سره سم په ښه او معروفه توګه هغوی ته مناسبه هدیه ورکړی.دا د نیکانو په ذمه د( مطلقه ښځو) لازمی حق دی.

وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّآ أَن يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَا۟ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ عُقْدَةُ ٱلنِّكَاحِ ۚ وَأَن تَعْفُوٓا۟ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۚ وَلَا تَنسَوُا۟ ٱلْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

او که په داسې وخت کې ورته طلاق ورکړئ چې جنسی مقاربت مو لا ورسره نه وی کړی خو مهر مو ورته ټاکلی وی، په دغه صورت کې باید د ټاکلی مهر نیمه برخه ورکړئ خو که ښځه یا د هغې ولی او د نکاح د عقد واکمن، له نرمۍ نه کار واخلی او مهر وبښی نو هیڅ مانع نشته او که تاسی ( نارینه نیمه پاتې برخه مهر هم د لا زیات بخشش په توګه ورکړئ) نو پرهیزګاری ته مو ډیر نږدې دی ، پخپلو منځو کې زیات بخشش ورکول او مروت او نیکی مه هیروئ ځکه الله تعالی ستاسو کړنې وینی.

حَـٰفِظُوا۟ عَلَى ٱلصَّلَوَٰتِ وَٱلصَّلَوٰةِ ٱلْوُسْطَىٰ وَقُومُوا۟ لِلَّهِ قَـٰنِتِينَ ﴿٢٣٨﴾

**د خپلو لمونځونو په تیره بیا د مازدیگر د لمانځه( یا ټولو هغو لمونځونو چې باید په پوره خشوع او توجه الی الله سره اداء شی) ډیره ساتنه کوئ او د عبادت په ترڅ کې، د الله تعالی په وړاندې( په پوره ادب او احترام) فرمان منونکی ودریږئ.**

فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا ۖ فَإِذَا أَمِنتُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٩﴾

**نو که( د دښمن یا داړونکو حیواناتو له ویرې) د بی امنئ احساس درسره وی، که پلی یاست یا سپاره، په هرشان چې کولی شئ لمونځ وکړئ، بیا چې کله په امن شئ نو د الله تعالی د یادولو لپاره ( په پوره خشوع او خضوع او د ارکانو په رعایت سره داسې لمونځ وکړئ ) څنگه یی چې درته لارښوونه کړې او پخوا وربانديې نه پوهیدې.**

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّأَزْوَاجِهِم مَّتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ مِن مَّعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٤٠﴾

**او هغه کسان چې خپل مرگ ته نږدی وی او کونډې ښځې ترې پاتی کیږی باید د هغوی په حق کې( خپلو وارثانو ته) وصیت وکړی چې تر یوه کاله پورې یی ټول مصارف ورکړی او د خاوند له کوره یی ونه باسی. خو که دوی پخپله خوښه له کوره وځی او د خپل راتلونکی ژوند په باب کوم روا او شرعی تصمیم ونیسی په تاسو( د مړی په وارثانو) یی گناه نشته ( او په مصارفو ورکولو یی هم مکلف نه یاست) او الله تعالی په ټولو چارو برلاسی او حکیم ذات دی.**

وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿٢٤١﴾

**(او په خاوندانو لازمه ده)چې خپلو طلاقو شویو ښځو ته مناسبې هدیی ورکړی. دا د پرهیزگارانو په ذمه( د مطلقه ښځو) لازمی حق دی.**

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٤٢﴾

په دې توګه الله تعالی تاسو ته خپل آیتونه (او احکام) تشریح کوی تر څو وربانديې د پوهې او تعقل په رڼا کې عمل وکړی.

۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُوا۟ ثُمَّ أَحْيَٰهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾

آیا د هغو زرګونو خلکو حال ته مو څه پاملرنه کړې چې د مرګ له ویری له خپلو کلیو باندو نه وتښتیدل، نو الله تعالی هغوی ته امر وکړ چې ومری ( او هغوی بې له ځنډه مړه شول) بیا یې هغوی بیرته راژوندی کړل( ترڅو وپوهیږی چې د الله له تقدیره تیښته نشته) حقیقت دادی چې الله تعالی په انسانی پرګنو زیات فضل او احسان کوی خو زیاتره خلک ناشکره دی.

وَقَٰتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٤﴾

(مؤمنانو!) دالله تعالی په لار کې ( د دین له دښمنانو سره) وجنګیږئ او باور ساتی چې الله اوریدونکی او په هرڅه پوه ذات دی.

مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥٓ أَضْعَافًا كَثِيرَةً ۚ وَٱللَّهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٤٥﴾

څوک دی چې الله تعالی ته حسنه قرض ورکړی ( او په بدل کې) څو برابره زیاته( ګټه) واخلی . د (روزئ) د پراخی او تنګلاسی راوستل ، د الله تعالی کار دی( او تاسو ټول د خپلو اعمالو د نتایجو د اخستلو لپاره) د هغه حضور ته ورګرځیدونکی یاست.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ
ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن
كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ
عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ
بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾

**آيا د بنی اسرائیلو د هغو مشرانو او سردارانو له حال احوال نه خبر یی چې له موسی نه وروسته( د ظالم او کافر پادشاه جالوت له سخت وحشت او بربریت سره مخامخ وو او بالاخره په بیت المقدس کې سره راټول او په اتفاق سره یی) خپل پیغمبر (سمویل) ته وویل زمونږ لپاره یو پادشاه وټاکه چې ( د هغه د قیادت لاندې) د الله په لارکې ( د خپلو دښمنانو په ضد) جهاد وکړو. پیغمبر ورته وویل: هسې نه چې د جنګ امر درته وشی او بیا په شا لاړ شئ او ونه جنګیږئ. هغوی ځواب ورکړ ولې به ( ذلت ته غاړه ږدو) او جهاد به نه کوو، په داسې حال کې چې مونږ( په زور او جبر) له خپلو کورونو ایستل شوی او له اهل و عیال نه مو جلا شوی یو. خو کله چې هغوی ته د جنګ امر وشو نو له لږ شمیر نه غیر، نور ټول په شا لاړل او الله پاک ظالمان ډیر ښه پیژنی.**

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ
قَالُوٓاْ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ ٱلْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِٱلْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ
يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ ٱلْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ
بَسْطَةً فِى ٱلْعِلْمِ وَٱلْجِسْمِ ۖ وَٱللَّهُ يُؤْتِى مُلْكَهُۥ مَن
يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٤٧﴾

**پیغمبریی ورته اعلان وکړ چې د الله تعالی له لوری په تاسو باندې طالوت د بادشاه په حیث ټاکل شویدی. هغوی د حیرانتیا په توګه وویل یو غریب سړی څنګه د بادشاهی مقام ته رسیدی شی ، دغه منصب باید په مونږ کې کوم تن ته سپارل شوی وی. پیغمبر ځواب ورکړ: الله تعالی ، هغه په تاسو باندې غوره ګڼلی او علمی لیاقت او جسمی طاقت او پیاوړتیا یی ورکړې ده ، (حقیقی واکمن او تولواک) الله تعالی دی هر چاته چې اراده وکړی پادشاهی او زعامت ورکوی ، او الله پاک پراخی راوستونکی او په هر څه عالم ذات دی.**

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ ءَايَةَ مُلْكِهِۦٓ أَن يَأْتِيَكُمُ
ٱلتَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ
ءَالُ مُوسَىٰ وَءَالُ هَٰرُونَ تَحْمِلُهُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَءَايَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٤٨﴾

**او پیغمبر هغوی ته وویل د طالوت د پادشاهی نښه داده چې پرښتې به هغه صندوق چې د الله له لوری ستاسو لپاره د اطمینان او تسکین وسیله ده او د موسی او هارون د کورنی موروثی مقدسات پکې پراته دی( او د جالوت لښکریانو درنه په جګړو کې اخستی) بیرته تاسو ته راوړی. که تاسو مؤمنان یاست نو دا مو د قناعت لپاره لویه نښانه ده.**

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِٱلْجُنُودِ قَالَ إِنَّ ٱللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ
فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّى وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُۥ مِنِّىٓ إِلَّا مَنِ
ٱغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِيَدِهِۦ ۚ فَشَرِبُوا۟ مِنْهُ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۚ فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ
هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ قَالُوا۟ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ
بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَـٰقُوا۟ ٱللَّهِ
كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ
مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾

**کله چې طالوت له خپلو پوځیانو سره یوځای( د جنګ په نیت) ووت، خپلو ملګرو لښکریانو ته یی وویل : الله تعالی تاسو د یوې ویالې په اوبو امتحانوی، ځوک چې دغه اوبه په مړه خیټه وڅښی هغه زما پیرو او ملګری نه دی،خو هغه ځوک مې حقیقی ملګری او پیرو دی چې له څښلو نه یی ځان وساتی او یا صرف لپه نیمه وڅښی. خو( له دې تنبیه سره سره) له یوې کوچنۍ ډلې نه غیر، ټولو د ویالې په اوبو ځانونه ماړه کړل. کله چې طالوت او مؤمن ملګری یی له سیند نه پوری وتل ( یوې ډلې) پکې وویل: نن په مونږ کې له جالوت او د هغه له لښکر سره د مقابلې توان او طاقت نشته، خو چا چې له الله تعالی سره په ملاقات( او اخروی اجر او ثواب ) ایمان درلود، وویل : ډیر داسې وړوکی ټولګی شته چې د الله په امر( او د صبر او استقامت په برکت) په یوه لوی لښکر برلاسی شوی ځکه الله پاک د صبر کوونکو( او ثابت قدمو مجاهدینو) ملګری او مرسته کوونکی دی.**

وَلَمَّا بَرَزُوا۟ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُوا۟ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا
صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ
ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾

**او کله چې ( د طالوت او مؤمنانو) دغه کوچنۍ ډله د جالوت او د هغه له لښکر سره ( د جګړې په ډګر کې) مخامخ شوه دعا یی وکړه: ای زمونږ ربه ، په مونږ د صبر او استقامت پیرزوینه وکړه، قدمونه مو ټینګ کړه او ( د دین په دښمنانو او) کافرانو راته فتح او بری را په برخه کړه.**

فَهَزَمُوهُم بِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾

**نو د الله په فرمان او توفیق سره یی دښمنانو ته ماتی ورکړه او ( د فلسطینیانو ستر قوماندان جالوت ، د طالوت د لښکر د پیاوړی مؤمن او ځوان مجاهد) داود په لاس ووژل شو. الله پاک داود ته پادشاهی او حکمت ورکړل او هغه علوم یی هم ورزده کړل چې غوښتل یې( لکه د اوسپنی د ویلی کیدو او زغرو جوړولو صنعت، د مارغانو په ژبو پوهیدل او د خلکو د دعواو او اختلافاتو فوری قضاوت او فیصله.) که الله تعالی( مفسدین او شر خوښوونکو) کسان د نورو( نیکو او صالحو کسانو د جهاد په وسیله) له منځه نه وړی، نو په ځمکه کې به فساد او تباهۍ روانه وی، خو بیشکه چې الله تعالی په بشری پرګنو باندې احسان کوونکی دی.**

تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱللَّهِ نَتۡلُوهَا عَلَيۡكَ بِٱلۡحَقِّۚ وَإِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢٥٢﴾

**دغه ( ربښتونی تاریخی کیسې) په حقیقت کې د الله تعالی ( د توحید، ربوبیت او قدرت) نښې دی چې په حقه یی تاته بیانوو او بیشکه چې ته د الله تعالی په پیغمبرانو کې شامل یی.**

**====================**

۞ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ ۖ وَرَفَعَ
بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ ۚ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ
بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِن بَعْدِهِم مِّن
بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَٰكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ وَمِنْهُم
مَّن كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿٢٥٣﴾

**دغه ټول پیغمبران چې ( له آدم نه تر محمد علیه السلام پورې یاد شول) مونږ یې ځینو ته په ځینو نورو، لوړتیا او فضیلت ورکړی، په دغو پیغمبرانو کې ځینې هغه دی چې الله تعالی ورسره خبرې کړی، او ځینو ته یې لوړې درجې ورکړی شوی( لکه محمد علیه السلام چې د خاتم النبیین په حیث د ټولو بشری پرګنو د لارښوونې لپاره مبعوث شوی) او عیسی ابن مریم ته مو ښکاره معجزات ورکړل او روح القدس( جبرئیل) مو د هغه مرستې ته واستاوه، او که الله تعالی خپله اراده ( جبراً تحمیلولی) نو دغو وروستیو امتونو به( د پیریو په اوږدو کې) د ښکاره او روښانه دلایلو له لیدلو سره هیڅکله یو بل نه وژل خو دوی پخپلو کې د خپل منځی اختلافاتو ښکار شول (او په بیلابیلو ملتونو وویشل شول) ځینو یې ایمان راوړ او ځینو د کفر او ګمراهۍ لار غوره کړه او که الله تعالی خپله اراده( جبراً په خلکو تحمیلولی) نو دوی به پخپل منځ کې سره نه وی جنګیدلی خو څه چې د الله تعالی اراده وی( د حکمت او مصلحت له مخې یې) عملی کوی.**

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا
بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ ۗ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٢٥٤﴾

**ای مؤمنانو! له هغه مال شتمنۍ څخه چې مونږ تاسو ته درکړې څه برخه یی د الله تعالی په لار کې نفقه کړئ مخکې له هغې ورځې چې نه پکې راکړه ورکړه وی، نه دوستی په درد وخوری او نه پکې سفارش او منځګړیتوب کار کوی او ظالمان واقعا هغه کسان دی چې د کفر لاره یی غوره کړې ( په خپل ځان او ټولنه ظلم کوی او په همدغه ورځ به د خپل ظلم ثمره وڅکی).**

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

الله، ابدی ژوندی ذات دی، له هغه نه غیر بل هیڅوک د عبادت او پرستش وړ نه دی، د کائناتو مدبر، منتظم او ساتونکی دی، نه خوب لری او نه وربانديِ پرکالی راځی، هرڅه چې په آسمانونو او ځمکه کی دی ټول د هغه د مالکیت او سلطې لاندی دی. هیڅوک د هغه له اجازې نه غیر، د هغه په حضور کی سفارش نشی کولی ،د خلکو د ماضی (په ارادو او اعمالو) او د مستقبل (په سرنوشت) ښه خبر دی( او ټولې زمانې او مکانونه د هغه د علم په وړاندې یو شان دی).هیڅوک د هغه علم ته لاسرسی نشی پیداکولی مګر دا چې هغه ورته پخپله خوښه د خپل علم یوه برخه ورکړی( انسانی علوم د الله تعالی د علم د لایتناهی بحر یو څاڅکی دی)، د هغه حکومت او فرمان په آسمانونو او ځمکه مسلط دی او هغه د خپل لوی سلطنت په ساتنه کې هیڅ ډول ستړیا او ستومانی نه احساسوی او بالاخره الله تعالی د اعلی مقام او عظمت لرونکی ذات دی.

لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

( د توحید او اسلام د پوره دلایلو له بیانولو او تشریح کولو نه وروسته) په هیچا باندې د دین منل اجباری نه دی( او هیڅ داسې اسلامی نص هم نشته چې څوک دې په زور او جبر په بل چا باندې خپل دین تحمیل کړی بلکه هرڅوک به د مطالعې، تحقیق او وعظ او نصیحت په اوریدو او بیا د خپل تفکر او تعقل له مخې ایمان راوړی). د هدایت لار ( اسلام ) له ګمراهې( کفر) نه جلا او روښانه شوی ده نو هر څو ک چې له طاغوت نه منکر او په الله تعالی ایمان راوړی په حقیقت کی یې په یوه ډیره مستحکمه او نه ماتیدونکی مرجع او اسرې

پورې ځان ته‌رلی او دغه پیاوړې مرجع د الله تعالی مقتدر ذات دی چې ستاسو پټې او ښکاره خبرې اورې او په هر عمل مو پوه دی.

ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُخْرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۖ وَٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓا۟ أَوْلِيَآؤُهُمُ ٱلطَّٰغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ ٱلنُّورِ إِلَى ٱلظُّلُمَٰتِ ۗ
أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٥٧﴾

الله تعالی د مؤمنانو ملاتړی او کارساز دی، د (جهالت، شرک، فسق او فساد) له ترګمیو نه یې ( د ایمان، حسنه اخلاقو او تقوی) نور ته راباسی، او طاغوت( شیطان) د کافرانو ملاتړی دی، غواړی خپل پیروان ( د ایمان ) له نور نه ( د کفر او جهالت) تاریکیو ته ورټیله کړی، بیشکه چې دوی دوزخیان دی او تل تر تله به هم هلته اوسی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِۦمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ
قَالَ إِبْرَٰهِۦمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ
إِبْرَٰهِۦمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ
فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥٨﴾

( ای پیغمبره) آیا د هغه چا( نمرود) له حاله خبر یې چې الله تعالی ورته( په عراق کې) پادشاهی ورکړې وه( خو ده د خپلې کم ظرفۍ له امله د شیطانی غرور په نشه کې د الله پاک له منلو انکار وکړ او) له ابراهیم سره یې بحث او مجادله پیل کړه. ابراهیم وویل زما رب هغه ذات دی چې ژوند او مرګ یی په واک کې دی، (نمرود) وویل ژوندی کول او مړه کول خو زه هم کولی شم. ابراهیم ورته وویل زما رب خو لمر له ختیځ نه راخیژوی، ته یې له لویدیځ نه راپورته کړه، کافر( پادشاه) د دغه چیلنج په مقابل کې هک پک او مغلوب شو. الله تعالی هیڅکله ظالمان( د هغوی د ظلم، تیری او په عناد او لجاجت باندې د ټینګار له امله) د هدایت په لاره نه برابروی.

أَوْ كَٱلَّذِى مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِىَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْىِۦ
هَـٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ
قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ
إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ
وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ ۖ وَٱنظُرْ إِلَى ٱلْعِظَامِ كَيْفَ
نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ
عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

**او بل مثال د هغه سړی په داستان کې دی چې ( سهار مهال) په یوه زوړ او کنډواله کلی تیریده چې چتونه او دیوالونه یې راغورځیدلی( او د مړو وراسته هډوکی یې هره خوا خواره واره پراته وو) ویې ویل: الله تعالی به دا مړی څنګه راژوندی کړی( شیبه لا نه وه تیره چې) الله پاک ترې سا واخسته او د سلو کالو لپاره مړ پریوت. بیا یې ( ماسپښین مهال) بیرته راژوندی کړ( او د ده پخپل وجود کې یې د بعث بعدالموت ثبوت ورکړ) پوښتنه یې ترې وکړه څومره وخت دربانديِ تیرشوی؟ په څواب کی یې وویل: ورځ به پوره وه یا به لا نه وه. الله تعالی وفرمایل بلکه سل کاله دربانديِ تیر شوی خو خوراک څښاک ته دې ګوره چې( د یوې پیړۍ په تیریدو یی بیا هم) خوند او رنګ نه دی بدل شوی او ترو تازه دی، خو بل خوا دې خره ته ګوره چې هډوکی یی هم لا پسې وراسته شوی( او پوه شه چې دا حقیقی منظر نه یوازې ستا د پوښتنې څواب دی بلکه) مونږ به ستا وجود (د دوباره ژوند د یوه انکار نه منونکی) ثبوت په توګه خلکو ته وړاندې کړو.( د خره) هډوکو ته ګوره چې څنګه یو له بله سره نښلی او بیا یې څنګه په غوښو( او پوستکی) پوښوو. کله چې هغه دغه ټول عملی منظر په خپلو سترګو ولید ویې ویل په یقین سره پوه شوم چې الله پاک په هر کار قدرت لرونکی ذات دی.**

وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِى كَيْفَ تُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ
قَالَ بَلَىٰ وَلَـٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِى ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ ٱلطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ
إِلَيْكَ ثُمَّ ٱجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ
سَعْيًا ۚ وَٱعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٦٠﴾

**او کله چې ابراهيم وويل: ای زما ربه ماته وښيه چې مړی څنګه ژوندی کوې، الله پاک وفرمايل آيا زما په قدرت دې باور نشی؟ ابراهيم وويل بيشکه چې باور مې پوخ دی خو غواړم (د دغه حقيقت په ليدو مې ) زړه مطمئن کړم. الله تعالی وفرمايل څلور مارغان راونيسه او له ځان سره يی وساته( تر څو د هر يوه مشخصات او مميزات ښه وپيژنې، بيا يې له ذبح کيدو  وروسته ټوک ټوک او سره ګډوډ او مخلوط کړه او د مخلوط شوې غوښې يوه يوه ټوټه) د بيلابيلو غرونو په څوکو کيږده او بيا (هر يو مارغه په اشاره) ځانته راوبله، وبه وينی چې هر يو په چټکی ستا په لور را الوزی او تينګ باور ساته چې الله تعالی( د خپلو احکامو په انفاذ) غالب او برلاسی او د حکمت څښتن ذات دی( او هر کار په  پوره تدبير او حکمت سره سرته رسوی).**

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ
سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّا۟ئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَـٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ
وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾

**د هغو کسانو( د انفاق صفت او) مثال چې خپل مال شتمنی د الله تعالی په لار( جهاد او نورو خيريه چارو)  کې لګوی د تخم هغې دانې ته ورته دی چې وکرل شی او اوه وږی ترې راشنه شی چې په هر وږی کې سل( سل) دانې وی او که الله پاک وغواړی اجر او بدله يې نوره هم ورته زياتولی شی ځکه  الله تعالی د پراخ رحمت ، نعمت او علم څښتن دی.**

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا۟ مَنًّا
وَلَآ أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ
يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾

**څوک چې خپل مال دولت د الله پاک په لاره کې نفقه کوی او بیا نه په چا احسان باروی او نه پرې څوک ( په پیغورونو ورکولو سره) زوروی، الله پاک ورته مناسبه بدله او اجر ورکوی،( په دنیا او آخرت کې )به وربانديې نه کومه ویره ترهه وی ، نه پریشانی او نه غم.**

۞ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ
حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾

**( سوالګرو او بې وزلو ته) یوه ښه او خوږه خبره(او د هغوی د غوسې او بدو ردو په مقابل کې) ببښنه او تحمل، له هغه خیرات نه ډیر ښه دی چې هغوی پرې وروسته ورټل شی. الله جل جلاله د خلکو( له مال دولت او خیراتونو) بې نیازه او د لوی تحمل او زغم لرونکی ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى
يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ
صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ
عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾

**ای مؤمنانو! خپل خیراتونه او صدقات په احسان بارولو او چاته په اذیت او پیغورونو، د هغه کس په شان مه خاورې کوئ چې د ریا او تظاهر لپاره مصارف کوی، خو نه په الله ایمان لری او نه د آخرت په ورځ. د دې سړی مال ښندنه داسې ده لکه په ښوینده تیږه چې خاورې واچوې (او دانې پکې وکری) خو په یوه شړکنده شیبه باران، خاوری او دانې دواړه په اوبو لاهو شی او تیږه تشه توره پاتې شی. د دوی زیار او زحمت ټول خاورې ایرې شی.(په انفاق او خیرات کې پاک نیت او اخلاص شرط دی، او ریا او احسان بارول یو کفری عمل دی ) او الله تعالی، هیڅکله کافرانو ته د خیر او نیکمرغئ لاره نه سموی.**

وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا
مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا
ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ
بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾

**او هغه کسان چې خپل مالونه او شتمنی د الله جل جلاله د خوښۍ لپاره په ډاډ زړه او ټینګ ایمان او ثبات لګوی، د لګښت او انفاق مثال یی هغه باغ ته ورته دی چې په یوه لوړه غونډۍ جوړ شوی وی او ونې یې په یوه شیبه باران دوه چنده میوې نیسی خو که شړکنده باران هم پرې ونه ووری، نری وربښت او پرخه یې هم د سرسبزۍ او ښیرازۍ لپاره پوره ده اوستاسو کړه وړه د الله تعالی تر پوره نظارت لاندې دی.**

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِى مِن
تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ
ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ
ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَـٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾

**آیا ستاسو کوم تن به دا خوښه کړی( بلکه هیڅکله به یې خوښه نه کړی) چې هغه دې د خرماو او انګورو یو شین سمسور بڼ ولری چې د رڼو اوبو ډکې ویالې پکې روانې او د ونو څانګې یې د میوو له زوره راځوړندې وی. دی پخپله زوړ او عمر خوړلی او اولادونه یې هم کمزوری (ماشومان) او د ګټې وټې نه وی خو ناڅاپه ورباندې تیز او سوزوونکی توپان راوالوزی چې د اور لمبې هم ورسره مل وی او ټول باغ په درنګ شیبه کی لکه شاره بیدیا په بله واړوی( ریا،تکبر،ځان ښودنه او احسان بارول هم د سوزوونکی توپان په شان، صدقات او زکاتونه او حتی ټول نیک اعمال تباه کوی) په دې ډول، الله پاک تاسو ته د خپل قدرت نښې بیانوی تر څو( د خپلو ټولو چارو او اعمالو په عواقبو) فکر وکړئ ( او خپل صدقات او زکاتونه یوازې د الله تعالی د رضا لپاره په پوره اخلاص او پاک نیت مستحقینو ته ورکړئ).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ
أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم
بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾

**ای مؤمنانو له هغو پاکو او غوره مالونو څخه چې تاسو ( له خپلو کارونو او تجارتونو ګټلی او هغه چې مونږ درته ( د میوو دانو، سبزیجاتو، کانونو او زیرمو په شکل) له ځمکې راویستلی، د الله تعالی په لارکې د زکات او صدقاتو په توګه ورکړئ خو د ناکاره او خرابو شیانو له صدقه کولو ډډه وکړئ او فکر وکړئ که دغه ناکاره شیان تاسو ته درکړی شی اخستلو ته به یې زړه ښه نه کړئ مګر دا چې له عیبونو نه یې سترګې پټې کړئ .**
**باور ولرئ چې الله پاک (ستاسو له صدقاتو نه بې نیازه او) د ډیرو غوره صفاتو او ستاینو لرونکی دی.**

ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم
مَّغۡفِرَةً مِّنۡهُ وَفَضۡلًاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾

**شیطان تاسو له تنګلاسئ او بې وزلئ ویروی ( او لمسوی مو ترڅو د الله پاک په لارکی نفقه او زکات ورنه کړئ) او فحشاو او ناروا کارونو ته مو هڅوی خو الله پاک درته د بښنې او نعمتونو وعده درکوی.(ټینګ باور ساتئ چې) الله تعالی روزی پراخوونکی او ستاسو په کړو وړو پوه ذات دی ( او تاسو ته به ستاسو د صدقاتو زیات اجر درکړی).**

يُؤۡتِي ٱلۡحِكۡمَةَ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُؤۡتَ ٱلۡحِكۡمَةَ فَقَدۡ أُوتِيَ خَيۡرًا
كَثِيرًاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾

**چاته چې یې اراده وشی حکمت( سالم بصیرت، د فیصلې او حکمیت قوت او قرآن پوهنه) ورکوی او چاته چې حکمت ورکړی شو په حقیقت کې د لوی دولت او خیر څښتن شو، ځکه همدا یوازې د سلیم عقل او پوهې خاوندان دی چې( د الهی کلام له مضمون نه) ګټه او عبرت اخستی شی.**

وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوۡ نَذَرۡتُم مِّن نَّذۡرٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُهُۥۗ
وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

هر هغه مال چې تاسو يې نفقه کوئ او هر هغه نذر چې تاسو يې په ځان لازموئ، الله پاک ته په پوره توګه معلوم دی، او( هغه) ظالمان به( چې الهی حدود ماتوی، د انفاق له حکم سره مخالفت کوی او په نذر وفا نه کوی) هيڅ مرستندوی او ملاتړی ونه لری.

إِن تُبْدُوا۟ ٱلصَّدَقَـٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾

که خپل خيراتونه او نفقې په ښکاره توګه ورکړئ هم ښه ده او که په پټه يې مستحقو او محتاجو کسانو ته وويشئ نو ستاسو لپاره ډيره غوره ده( په تاسو کې سپيڅلی او حميده اخلاق پيدا کوی او د الله تعالی حضور ته مو دومره مقرب او نږدې کوی چې د ډيرو لږو نيکو اعمالو په اجر کې درته) ډير ګناهونه دربښل کيږی او بيشکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ښه خبر دی.

۞ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

د هدايت لارې ته د خلکو راوستل ستا ذمه واری نه ده، (ستا وظيفه يوازې د الهی پيغام او احکامو ابلاغ او حجت تمامول دی) بلکه څوک چې د الله تعالی خوښ وی د هدايت په مستقيمه لاره يې برابروی.(نو ای د ايمان خاوندانو) ستاسو د خيرات او نفقې اصلی ګټه بيرته ستاسو ده (په دې شرط چې خپل مال او شتمنی په پوره اخلاص ) يوازې د الله پاک د رضا او خوښئ لپاره ولګوئ نو هر غوره او با ارزښته شی چې خيراتوئ، په مقابل کې به پوره پوره اجر او ثواب درکړی شی او په تاسو به هيڅ ظلم ونشی.

لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ أُحْصِرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا
يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ
أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ
ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ
عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾

(صدقات) له بل هر چانه زيات د هغو بې وزلو حق دی چې خپل ژوند يې الهی چارو( جهاد، دينی علم او عبادت) ته وقف کړی( او په اقتصادی تنګسيا کې ژوند کوی خو د کار کسب لپاره ) په ځمکه کې هلې ځلې نشی کولی، بې خبره کسان چې د دوی ظاهری استغنا او وقار ته ګوری د شتمنو ګومان وربانده کوی خو د بصيرت خاوندان يې له نښو پيژنی. ای مخاطبه!)ته يې د څيرو په ليدو له حقيقی حال نه ښه خبريدی شې، هغوی له خلکو نه په ټينګار څه نه غواړی،( نو ای مؤمنانو) د هغوی په لاس نيوی کې چې هر څه تاسو صدقه کوئ يقينا چې الله پاک وربانده ښه خبر دی( او پټ ترې نه پاتې کيږی).

ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً
فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ
يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

هغه کسان چې خپل مال دولت، شپه ورځ ( او په هر ډول شرايطو کې) په پټه او ښکاره صدقه کوی، اجر او ثواب يې د رب په حضور کې ثابت دی. نه به په دوی( په دنيا اوآخرت کې) څه ويره او ترهه وی او نه غم او پريشانی.

ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡبَيۡعُ مِثۡلُ ٱلرِّبَوٰاْۗ وَأَحَلَّ
ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا
سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا
خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾

**هغه کسان چې سود خوری( د عربو په اصطلاح، د قیامت په ورځ به ) د شیطان وهلی لیونی په څیر راپورته کیږی او دا ځکه چې دوی ویل سود او تجارت هیڅ توپیر نه لری ، حال دا چې الله تعالی تجارت روا او سود حرام کړی دی. نو چاته چې( د سود پریښودو په باب) الهی نصیحت او فرمان ورسید او بې له ځنډه یې له سود خوړلو لاس واخست، څه چې یې خوړلی هغه یې خوړلی، فیصله یې له الله تعالی سره ده او چا چې له الهی حکم نه سرغړونه وکړه ( او بیا هم سود خوری ته اړم شو ) بیله شکه دوزخی دی چې تل ترتله به هلته زوریږی.**

يَمۡحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرۡبِي ٱلصَّدَقَٰتِۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾

**الله تعالی د سود ( سرمایه او برکت دواړه) له منځه وړی او د خیراتونو او صدقاتو ثواب او سرمایې) ته وده او ښیرازی وربښی. الله پاک هیڅکله ناشکره بدعمله انسان نه خوښوی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ
ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمۡ أَجۡرُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ وَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ
يَحۡزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

**هغه کسان چې ایمان راوړی او نیک عملونه کوی، (په خشوع او خضوع او ارکانو برابر) لمونځونه کوی او زکات ورکوی، اجر او ثواب یی له خپل رب سره ثبت دی( په دنیا او آخرت کې به) د هر ډول ویرې ترهی او کړاو نه په امن کې وی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ٢٧٨

**ای مؤمنانو! که پخپل ایمان کې ربښتونی یاست نو د الله تعالی ( له عذاب او عقاب ) نه وویرېږئ او له هغه سود نه چې مو په خلکو پاتې دی تیر شئ.**

فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ فَأۡذَنُواْ بِحَرۡبٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۖ وَإِن تُبۡتُمۡ فَلَكُمۡ
رُءُوسُ أَمۡوَٰلِكُمۡ لَا تَظۡلِمُونَ وَلَا تُظۡلَمُونَ ٢٧٩

**که په دغه الهی نصیحت عمل ونه کړئ نو بیا د الله تعالی او د هغه د رسول جګړې ته تیار شئ. او که اوس هم توبه وباسئ ( د الهی حکم سره سم له سود نه لاس واخلئ او اخستلی سود بیرته ورکړئ) نو د خپلې اصلی سرمایې حقدار یاست. مه تاسې په چا ظلم کوئ او نه به په تاسو ظلم کیږی.**

وَإِن كَانَ ذُو عُسۡرَةٖ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيۡسَرَةٖۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيۡرٞ
لَّكُمۡۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٢٨٠

**که ستاسو پوروړی تنګلاسی وی نو تر لاس چلیدو او شتمن کیدو ورته مهلت ورکړئ او که یې ( د غربت او نادارایی په نظر کې نیولو سره) ورته بیخی د خیرات په توګه وروبښئ نو که پوهیږئ ستاسو لپاره ډیر فضیلت او ثواب لری.**

وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا تُرۡجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ
وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ٢٨١

**د هغې ورځې( له عذاب او عقاب ) نه وویرېږئ چې تاسو به پکې د الله تعالی حضور ته احضار شئ او بیا به هر چاته د هغه د کړنو سره سم بدله ورکړی کیږی او هیڅ ډول ظلم او بې انصافی به ورسره نه کیږی (ځکه هر څه به یې د خپلو اعمالو عینی تجسم وی.)**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى
فَٱكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِٱلْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن
يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ
وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ
سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُۥ بِٱلْعَدْلِ ۚ
وَٱسْتَشْهِدُوا۟ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ۖ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ
فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا
فَتُذَكِّرَ إِحْدَىٰهُمَا ٱلْأُخْرَىٰ ۚ وَلَا يَأْبَ ٱلشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوا۟ ۚ وَلَا
تَسْـَٔمُوٓا۟ أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ
عِندَ ٱللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدْنَىٰٓ أَلَّا تَرْتَابُوٓا۟ ۖ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً
حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ
وَأَشْهِدُوٓا۟ إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِن
تَفْعَلُوا۟ فَإِنَّهُۥ فُسُوقٌۢ بِكُمْ ۗ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ ٱللَّهُ ۗ
وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٢٨٢﴾

**ای مؤمنانو!** کله چې تاسو په خپلو منځو کې د ټاکلې مودې لپاره د پور راکړه ورکړه کوئ نو( د سند په شکل يې) وليکئ او دا سند بايد ستاسو ترمنځ يو تن چې الله تعالی ورته د ليکلو اهليت او استعداد ورکړی وی په انصاف سره وليکی او له ليکلو څخه يی انکار، و نه کړی. د املا بيان دې پوروړی پخپله( پوره او ټکی په ټکی) ووايی ، له خپل رب نه دې وويريږی او په بيان کې دې کمی نه کوی، خو که پوروړی ناپوهه يا کمزوری( زوړ او ناروغ ) وی او يا د خبرې د بيان طاقت نه لری نو د هغه ولی دې خبره په انصاف او امانتدارئ سره ليکونکی ته بيان کړی او دوه تنه نارينه هم بايد د ګواهانو په توګه وټاکئ خو که دوه نارينه نه وو نو يو سړی او دوه ښځې چې تاسو ورباندې همنظره او متفق ياست هم کفايت کوی ( دوه ښځې ځکه ضرور دی) چې که يوه يې خبره هيره کړی هغه بله به يې ورياده کړی. او شاهدان چې کله هم د ګواهئ لپاره راوغوښتل شی نو بايد له حقې ګواهئ ورکولو نه انکار، و نه کړی. که معامله د لوی رقم پيسو وی که د لږو، خو بايد سرسری او بې اهميته يی و نه ګڼئ ځکه دا ډول اسناد ليکل د الله تعالی په وړاندې ښه د انصاف کار دی او په دې سره هم په شاهدی تيرولو کې اسانتيا راځی او هم مو له شکونو او شبهاتو نه ساتی . که راکړه ورکړه لاس په لاس وی بيا يی په نه ليکلو کې ګناه نشته خو بيا هم ښه ده چې ګواهان موجود وی. ليکونکی او شاهد بايد و نه زورول شی ، د هغوی زورول ګناه ده او له الله تعالی له قهره وويريږئ ، الله تعالی درته سمه لار درښيی او الله تعالی په هر څه پوه ذات دی.

۞ وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُوا۟ كَاتِبًا فَرِهَـٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ۖ فَإِنْ أَمِنَ
بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِى ٱؤْتُمِنَ أَمَـٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ ۗ وَلَا
تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَـٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا
تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾

او که تاسو په سفر کې ياست او د ليکلو لپاره کوم ليکونکی نشئ پيدا کولی نو پکار ده چې ( له پور اخستونکی نه ) يو شی په ګرو واخلئ او که په يو بل مو اعتماد وی (نو د ټاکلې مودې د پور د سند او وثيقې يا ګواه نيولو يا ګرو اخستلو ضرورت نشته). پوروړی چې( د پور) امين ګڼل شوی بايد امانت( پور چې د ده په ذمه دی) بيرته( اصل څښتن) ته وسپاری او بايد د الله تعالی له قهره وويريږی ( او په پور منکر نشی) او ګواهی مه پټوئ او څوک چې له ګواهئ نه انکار وکړی او پټه يې کړی په حقيقت کی يې زړه د ګناه مرتکب شوی( ځکه زړه د ټولو نيکو او بدو اعمالو د منلو او يا انکار لومړنی مرکز دی ). باور ساتئ چې الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډير ښه پوه دی.

لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَإِن تُبۡدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ أَوۡ
تُخۡفُوهُ يُحَاسِبۡكُم بِهِ ٱللَّهُۖ فَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٢٨٤

څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دی ټول د الله پاک ملکیت دی.( د شر او ګناه هره خبره چې ستاسو په زړونو کې وی) که یې ښکاره کړئ او که یې پټه وساتئ، الله تعالی به درسره پرې محاسبه کوی، بیایې خوښه چې څوک ببښی اوچا ته سزا ورکوی او الله تعالی په هر څه قادر او برلاسی دی.

ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ
وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ
سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥

پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په ټولو هغو احکامو او اعتقاداتو ایمان راوړی چې د رب له خوا یې ورباندې نازل شوی او مؤمنانو هم دغه هدایات د زړه په مینه منلی (او اقرار کوی چې) په الله تعالی، د هغه په پرښتو، د هغه په آسمانی کتابونو او د هغه په پیغمبرانو ایمان لرو او د الله پاک د پیغمبرانو ترمنځ هیڅ توپیر نه کوو، د الله حکم مو اوریدلی او اطاعت یې کوو، ای زمونږ ربه! مونږ ستا نه د خپلو ګناهونو ببښنه غواړو او پخه عقیده مو داده چې ستا حضور ته درګرځو.

لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا
ٱكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ
عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا
مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا
فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾

**الله تعالی په هیڅا د هغه له توان طاقت نه زیات بار نه ږدی، څا چې ښه کړی د خپل عمل ثمره به وینی او څا چې بد کړی، بد عاقبت او سزا یې خپله ده( ځکه چې مسؤلیت فردی دی).**
**( مؤمنانو دعا وکړئ) ای زمونږ ربه! مونږ په هغه ګناه مه نیسه چې په هیره اوخطا رانه صادره شوی وی.**
**ای ربه په مونږ هغه پیتی مه ږده چې له مونږ نه په پخوانیو خلکو دی ایښی و، ای زمونږ ربه! د تکالیفو او مصیبتونو داسې بار راباندې مه ږده چې مونږ یې د تحمل توان او طاقت نه لرو، مونږ ته زمونږ د تقصیراتو او لغزشونو ښښنه وکړه، له ګناهونو مو تیرشه ، په مونږ رحم وکړه، ته زمونږ مرستندوی او کار جوړوونکی یې نو مونږ ته په کافرانو برلاسی او فتح راکړه.**

**«تمت سورة البقرة بفضل الله رب العالمین. یا من لک الکبریاء فی الدنیا و الاخرة!ادخلنا بکرمک فی عبادک الکرام البررة.»**

**=======================**